د مطبوعاتو او تشریفاتو ریاست
د مطبوعاتو آمریت

لومړی کال ـ ۳ گڼه ـ ۱٤٤٤ ـ صفر المظفر



## گرانو هېوادوالو!

په افغانستان کې نوي سیاسي تحول دې ته لار هواره کړه چې د افغانستان خلک له سیاسي، نظامي، اقتصادي او فرهنگي نظره خپلې ټولې چارې په خپلواکه توگه په لاس کې واخلي.
د سیاسي ثبات تر رامنځته کېدو وروسته اقتصادي وده او پرمختگ مهمه او حیاتي موضوع گڼل کېږي، چې د یوه هېواد په بیارغونه او ښېرازۍ کې رول لري، ترڅو خلک له فقر، بېکارۍ او تنگلاسۍ څخه وژغوري. په همدې توگه د افغانستان د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت په ټول توان هڅه کوي، چې د خپل ولس اقتصادي ستونزو ته د پای ټکی کېږدي او د هېواد اقتصاد د بهرنیو مرستو پر ځای یوازې پر خپلو پرېمانه کورنیو سرچینو متکي کړي.

**الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند**

@FDPM_AFG
dpmea.gov.af
@FDPM_AFG

# آبادي

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
میاشتنۍ

۳ گڼه

- د ۱.۱.۱ په یو کلن مزل کې د هېواد اقتصادي وضعیت ته ځغلنده کتنه
- نگاهی به دو دهه کم‌توجهی روی برق و چشم‌انداز جدید
- د بخش اباد بند د جوړېدو تاریخي بهیر او اقتصادي اهمیت ته لنډه کتنه

د مطبوعاتو او تشریفاتو ریاست
د مطبوعاتو آمریت

بسم الله الرحمن الرحیم

# آبادي

۳ گڼه

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت
میاشتنۍ

**د امتیاز خاوند:** د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

**کتنپلاوی:** مولوي ذبیح الله، مولوي عبدالله عزام، احمدشاه راشد او احسان الله ذهین

**مسؤول مدیر:** مولوي ذبیح الله

**مرستیال:** احمدشاه راشد

**ډیزاینر:** عطاءالرحمن سعید

**فوټوژورنالیست:** سید عشرت رحمتي

**چاپ:** بهیر مطبعه

پته: مرمرینه ماڼۍ، کابل - افغانستان

ټیلیفون: ۰۲۰۲۱۰۷۵۰۰

برېښنالیک: media@dpmea.gov.af

وېبپاڼه: dpmea.gov.af

- د مضمونونو او مقالو مسؤولیت د لیکوالانو پر غاړه دی. د مجلې د مقالو او انځورونو څخه ګټه اخیستنه د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.
- مسؤولیت مضامین و مقالات به نویسندگان آن بر می گردد. استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مآخذ مجاز است.

# لړلیک


## د اقتصادي کمیسیون د ناستو راپورونه ۱-۸

- د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون ۲۵مه غونډه ترسره شوه ۲
- د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون ۲۶مه غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه ۳
- د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون د ۱٤٤٤ هـ.ق کال لومړۍ غونډه ترسره شوه ٤
- له حیرتان، آقینې او تورغونډۍ بندرونو څخه د مایع ګاز واردات زیاتېږي ۵
- د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون د ۱٤٤٤ هـ.ق کال دویمه غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه ۷

## سفرونه ۹-۱۲

- الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند پکتیکا او خوست ته له زلزله ځپلو سره د خواخوږۍ او غم‌شریکۍ په موخه سفر وکړ ۱۰
- الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند ننګرهار ولایت ته سفر وکړ ۱۱
- الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د کجکي بند د دویم فاز ګټې اخیستنې مراسمو کې د ګډون په موخه هلمند ته سفر وکړ ۱۲
- د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند ارزګان ته سفر وکړ ۱۲

## د اقتصادي موضوعاتو اړوند مقالې ۱۳-۵۶

- د ا.ا.ا په یو کلن مزل کې د هېواد اقتصادي وضعیت ته ځغلنده کتنه ۱۴
- نگاهی به دو دهه کم‌توجهی روی برق و چشـــم‌انداز جدید ۲۶
- بیا نوې کېدونکې انرژي او په افغانستان کې یې شته سرچینې او ظرفیتونه ۳۵
- پاشـــدان بند؛ اهمیت، ګټې او وروستي کاري پرمختګونه ۴۳
- د بخش‌اباد بند د جوړېدو تاریخي بهیـــر او اقتصادي اهمیت ته لنډه کتنه ۴۹

## ډیپلوماتیکې ناستې ۵۷

- الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د ازبیکستان د ملي امنیت شورا له سلاکار سره وکتل ۵۷



# د اقتصادي کمېسیون

# د ناستو راپورونه

## د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ

# د اقتصادي کمېسیون ۲۵مه غونډه ترسره شوه

د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون 25مه غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه.

د اقتصادي کمېسیون په دغه غونډه کې د شاه او عروس بند د پاتې کارونو پر بشپړوالي، د کام‌ایر هوايي شرکت د پاتې پورونو پر تصفیې، له پاکستان سره د اپټا(APTTA) تړون پر تمدید او همدارنګه د «کیو اي افغان» لوجستیکي شرکت له لوري پر وړاندې شوې طرحه په جزئیاتو سره مفصل بحثونه او لازمې لارښوونې وشوې.

د کیو اي افغان لوجستیکي شرکت د هرات په غوریان ولسوالۍ کې دوه زره جریبه دولتي ځمکه په اجاره غواړي، چې د کرنې، مالدارۍ او پروسس په برخو کې د 100 میلیونو ډالرو په ارزښت پانګونه کوي.









## د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون 26مه غونډه ترسره شوه

**د ریاســت‌الوزراء د اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني بــرادر اخونــد پــه مــشرۍ د اقتصــادي کمېســیون 26مه غونډه پــه مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه.**

**په دغــه غونډه کې د «هلمند نوشــیروان مرمــرو ډبــرو شرکــت» لــه لــوري پــر اوبډمهالــې پانګونــې، پــه مرکزي ســیلو کــې د زرګونو میټریــک ټنــه نخــودو پــر پروســس او همدارنګــه د پاشدان بند د پاتې کارونو پر بشــپړولو مفصــل بحثونه او لازمې لارښوونې وشوې.**

اقتصادي کمېســیون صنعت او سوداګرۍ، کانونــو او پترولیــم، ښــارجوړونې او همدارنګــه د کرنــې، اوبولګولــو او مالدارۍ وزارتونــو تــه هدایــت وکړ، چــې د هلمنــد نوشــیروان مرمــرو ډبــرو شرکت له لــوري د وړانــدې شــوې طرحــې تخنیکــي او عملي اړخونه، مالي وړتیا او اقتصادي پایلې په ښه شــکل سره و ارزوي او خپل راپــور اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.

په دغــه غونډه کې تر مفصل بحث وروســته کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارت ته همدا راز هدایت وشو، چې د هند له لوري 70774 میټریــک ټنــه مرســته شــوي نخــود چــې اوســمهال په مرکزي ســیلو کــې زېرمه دي، لومړی باید پروســس او وروســته پــر اړمنو خلکو ووېشل شي.

د اقتصادي کمېســیون په دغه غونډه کې د افغانســتان او ازبیکســتان تــر منځ د دوو اړخیزو ســوداګریزو اړیکو د پیاوړتیا په موخه، د صنعــت او ســوداګرۍ وزیــر پــه مشرۍ د ســوداګرو یــو ګډ پــلاوي ته هدایت وشــو، چې ازبیکســتان ته رسمي ســفر وکړي او د خپل سفر راپور کمېسیون ته وړاندې کړي.

د هــرات ولایــت پــه کــرخ ولســوالۍ کې د پاشــدان بند د پاتې کارونو پر بشــپړولو هــم د اقتصــادي کمېســیون پــه 26مه غونــډه کــې بحــث وشــو. د الحــاج مــلا عبدالغنــي بــرادر اخونــد پــه مــشرۍ اقتصــادي کمېســیون صنعــت او سوداګرۍ او د اوبو او انرژۍ وزارتونو ته دنده وسپارله، چې د خصوصي پانګونې لــه لوري د دغه بند د پاتې کارونو د سرته رســولو ارزونــه وکــړي او پــه دې اړه خپل راپــور اقتصــادي کمېســیون تــه وړاندې کړي.

اقتصــادي کمېســیون همــدا راز تــر هراړخیــزې ارزونــې وروســته پــر نــوو جوړېدونکــو تېل پمپونــو «د ګاز او نفتو دولتــي شرکــت» لــه لــوري جوړ شــوی توحیــدي طرزالعمــل هــم د تطبیــق وړ وبالــه. دغه طرزالعمل به د دوو کلونو په جریان کې په تدریــج سره په ټولو تېل پمپونو هم تطبیق شي.






## د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ

# د اقتصادي کمېسیون د 1444 هـ.ق کال لومړۍ غونډه ترسره شوه

د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون د 1444هـ.ق کال لومړۍ غونډه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره او په بېلا بېلو موضوعاتو مفصلې خبرې پکې وشوې. په دغه غونډه کې د «مصطفی صادق عظیمي سوداګریز شرکت» له لوري پر اوږدمهالې پانګونې، هېواد ته د بې کیفیته تېلو د واردولو پر مخنیوي، د تاپي پروژې مشرتابه پلاوي ته د ا.ا.ا استازي د معرفۍ، بهر ته د زړې اوسپنې د لېږد پر بندېدو او د زړې اوسپنې سوداګرو د ستونزو پر معقول حل مفصل بحثونه او لازمې لارښوونې وشوې.

د اقتصادي کمېسیون په دغه ناسته کې د کانونو او پټرولیم وزارت ته لارښوونه وشوه، چې د تاپي پروژې مشرتابه پلاوي ته د ا.ا.ا استازي د معرفي کولو په اړه په تاپي پروژه کې د شریکو هېوادونو څخه د معلوماتو په کولو، دا جوته کړي چې د افغانستان لخوا دغه پلاوي ته په کومه سطحه استازی معرفي شي. دا وزارت دې مطلوب معلومات د اقتصادي کمېسیون په راتلونکې غونډه کې د کمېسیون غړو ته وړاندې کړي.

همدارنګه د صنعت او سوداګرۍ وزارت د سرپرست په مشرۍ د ښارجوړولو، اقتصاد او مالیې وزارتونو، د چارو ادارې لوی ریاست او کابل ښاروالۍ ګډ پلاوي ته دنده وسپارل شوه، چې د مصطفی صادق عظیمي شرکت له خوا د کابل شهر نو پارک د جوړولو طرحه په دقیقه او هراړخیزه توګه وڅېړي او خپل وړاندیزونه دې اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.

همداراز د صنعت او سوداګرۍ وزارت په مشرۍ، د مالیې او عامې روغتیا وزارتونو او چاپېریال ساتنې ادارې له خوا دې یو تخنیکي پلاوی وټاکل شي چې د نورم او سټنډرډ ملي ادارې د معیارونو په پام کې نیولو سره د دغې ستونزې د حل لپاره په بندرونو کې د نفتي موادو د ټسټ بهیر وڅارې او د خپلو اجراآتو رپوټ دې اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.

همدا ډول د رنګه فلزاتو ستونزې د حل په موخه، د فلزاتو د صدور د مخنیوي او سوداګرو تر منځ د جوړجاړي پخوا ټاکل شوی پلاوی دې د دغې موضوع د حل لپاره بیا فعال شي او د سکټور د غړو په مشوره دې د رنګه فلزاتو ستونزه په بنسټیزه بڼه حل کړي او د خپلو کړنو راپور دې اقتصادي کمېسیون ته وړاندې کړي.

غونډه، د آباد او پر خپلو پښو ولاړ افغانستان په دعا سره پای ته ورسېده.

# له حیرتان، آقینې او تورغونډۍ بندرونو څخه د مایع ګاز واردات زیاتېږي

په افغانستان کې د نفتو او مایع ګاز د وروستیو لوړو بیو د کنټرول او هېوادوالو د اړتیاوو پوره کولو په موخه د افغانستان اسلامي امارت د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت د صنعت او سوداګرۍ وزارت په مشرۍ یوې ځانګړې کمېټې ته دنده وسپارله څو په دې اړه له ترکمنستان څخه د مایع ګاز واردوونکو شرکتونو سره یو توافق ته ورسېږي.

د صنعت او سوداګرۍ وزارت، د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت د عالي مقام ارشد مشاوریت، د سټنډرډ ملي ادارې او د افغانستان د نفت او ګازو دولتي شرکت په ګډه ناسته کې له ترکمنستان څخه د مایع ګاز د وارداتو زیاتولو په اړه له دغه هېواده د مایع ګاز د واردوونکو شرکتونو ژمنې تر هر اړخیزو بحثونو وروسته تائید کړې او هغوی ته یې د کار اجازه ورکړه.

له ترکمنستان سره د لسګونه زره ټنه مایع ګاز د شوي قرارداد پر اساس به د مایع ګاز واردوونکي شرکتونه ډېر ژر زرګونه ټنه ګاز چې اوسمهال د افغانستان بندرونو ته رارسېدلي دي؛ له حیرتان، آقینې او تورغونډۍ بندرونو څخه د هېواد بازارونو ته وارد کړي، چې د دې کچې ګاز په واردېدو سره به د افغانستان په بازارونو کې د مایع ګاز بیې د پام وړ ټیټې شي.

د یادولو وړ ده چې ډېر ژر به لسګونه زره ټنه نور مایع ګاز هم د هېواد بندرونو ته را ورسېږي او د نفت او ګازو دولتي شرکت تر کنټرول لاندې به بازار ته وړاندې شي. دغه مایع ګاز چې د افغانستان بندرونو ته رارسېږي، د سټنډرډ ملي اداره یې لومړی کیفیت ارزوي او هغه ګاز ته د واردېدو اجازه ورکوي، چې پر سټنډرډ برابر وي.

د افغانستان اسلامي امارت د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت له سټنډرډ ملي ادارې او نفت او ګازو دولتي شرکت سره په ګډه د هېواد په بندرونو کې د بې‌کیفیته توکو د واردېدو د مخنیوي لپاره کار کوي.




### الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

## «افغان انویسټ»

### شرکت پرانیست

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د 1443هـ.ق کال د ذوالقعدة الحرام میاشتې په 19مه نېټه چې د 2022 م کال د جون میاشتې له 19مې نېټې سره برابر ده، په کابل کې "افغان انویسټ" محدودالمسؤلیت شرکت پرانیست.

د دغه شرکت د پرانیستې مراسمو ته الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند وویل، د افغان انویسټ شرکت یوه ښه ځانګړنه دا ده، چې د ټولو قومونو استازي پکې شته دي. د افغانستان اسلامي امارت او په تېره بیا اقتصادي معاونیت، د سوداګرو د دغه نېک او لوی اقدام پوره ملاتړ کوو. موږ دوی ته د هر ډول همکارۍ او اطمینان ډاډ ورکوو او دا د پر ځان بسیاینې پر لور یو مهم ګام بولو.

افغان انویسټ محدودالمسؤلیت شرکت چې ډېر ژر به پر کار پیل وکړي، په لومړي سر کې 13 پانګوال لري، چې د 250 میلیونو ډالرو په ارزښت به پکې پانګونه کېږي. د دغه شرکت یو تن برخوال شېرباز

کمین زاده وایي، له دغه شرکت څخه یې موخه د کورنۍ او بهرنۍ پانګونې لپاره د یو معیاري مرکز جوړول او د افغانستان له ظرفیتونو څخه ګټه اخیستل دي.

د کمین زاده په خبره، افغان انویسټ شرکت په څلورو برخو: کانونو، برېښنا، صنعت او سوداګرۍ کې پانګونه کوي، چې د افغانستان د کانونو سکټور به د معیاري او باکیفیته تجهیزاتو په استفادې سره پر دې وتوانیږي، چې له کانونو څخه په غوره او دایمي توګه ګټه واخلي. نوموړی زیاتوي چې تر اوسه په افغانستان کې د کانونو کېندلو او پروسس په برخه کې اساسي پانګونه نه ده شوې، چې دوی به وتوانېږي دغه تشه په ښه او مسلکي ډول سره ډکه کړي.

د افغان انویسټ شرکت مسؤلین وایي، د دغه شرکت له رامنځته کولو یې هدف له نړیوالو معیارونو سره سم د یوې کمپنۍ رامنځته کول او د سیمې په کچه پر یوه پرمختللي مرکز د هغه بدلول دي. دوی زیاتوي چې په دې سره به په باثباته افغانستان کې د سیمې ظرفیتونو همکاري او ګډون هم زیات شي.

د دغه شرکت د کارونو له پیل سره به ډېری بهرني او کورني پانګوال وهڅېږي چې په افغانستان کې په بېلابېلو برخو کې پانګونه وکړي، چې هم مهاله به زرګونو کسانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شي.

د افغان انویسټ شرکت پانګوال وایي، دوی به لومړی له ډېرو سکرو څخه د برېښنا د تولید په برخه کې کار پیل کړي، چې په دې سره به په وارداتي برېښنا کې د پام وړ کموالی راشي. د دغه شرکت او کانونو او پترولیم وزارت تر منځ هوکړې ته له رسېدو وروسته به په پنځو سیمو کې د 1700 میګاواټه برېښنا د تولید په کچه دغه وزارت افغان انویسټ شرکت ته د ډېرو سکاره برابروي. د دې برېښنا د تولید په صورت کې به په اړوندو سیمو کې لسګونه صنعتي پارکونه جوړ شي، چې هممهاله به ورسره کورني تولیدات زیات او برعکس له بهر څخه به واردات کم شي. له دغه درکه به د دولت خزانې ته په میلیونونو افغانۍ عواید هم جمع کېږي.



نېټه: ۲۰۲۲، د اگست ۱۸مه

# دریاست‌الوزراء اقتصادي مرستيال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسيون د 1444هـ.ق کال دويمه غونډه په مرمرينه مانۍ کې ترسره شوه

په دغه غونډه کې د تاپي پروژې د رهبرۍ کمېټې لپاره د افغانستان له لوري محترم الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند، چې په کال کې د دولتونو په سطحه غونډه کوي او د تاپي کمپنۍ لپاره محترم شيخ شهاب‌الدين دلاور، چې د اړتيا په وخت کې د وزارتونو په کچه غونډه کوي، د استازو په توگه ورمعرفي شول چې ټاکل شوې په نږدې راتلونکي کې به يې عملي کارونه له هرات ولايت څخه پيل شي.



په دغه غونډه کې د خصوصي بانکونو د تقويې په موخه اقتصادي کمېسيون د بانکي قضيو د ژر خلاصون لپاره له سترې محکمې د يوې اختصاصي محکمې د جوړېدو غوښتنه وکړه او همدارنګه پرېکړه وشوه چې د افغانستان محاکم دې د جايدادونو او ملکيتونو د شرعي قبالو ورکړه پيل کړي، خصوصي ساختماني کارونه دې بيا پيل شي، بهرنيو چارو وزارت او د افغانستان بانک دې هڅه وکړي چې له مرسته کوونکو سازمانونو سره د همغږۍ له لارې نقدي بشري مرستې د يو بانک پر ځای د څو خصوصي بانکونو له لارې حواله کړي، بهرنيو چارو وزارت دې په ګاونډيو او نورو هېوادونو کې د خصوصي بانکونو د بانکي حسابونو د خلاصون لپاره هڅې وکړي، د افغانستان بانک دې د ماليې وزارت په مرسته خصوصي بانکونو ته وديعه ورکړي، د بانک ظرفيت ته په کتو دې د دولتي کارکوونکو معاشونه د خصوصي بانکونو له لارې حواله شي، د اسلامي بانکوالۍ په برخه کې دې خصوصي بانکونه د ايران، پاکستان او ماليزيا له تجربو څخه ګټه واخلي او دغه راز دې د شريعت مطابق د مرکزي بانک د طرزالعمل پر اساس خصوصي بانکونه خلکو ته د اسلامي قرضونو (مضاربه، مرابحه، سلم) ورکړه پيل کړي.

په دغه غونډه کې له ايران سره د اقتصادي موضوعاتو پر سر د ماليې، کانونو او پټروليم، اوبو او انرژۍ، کرنې اوبو لګولو او مالدارۍ، اقتصاد، صنعت او سوداګرۍ وزارتونو او د اوسپنې پټلۍ اداري د يو ګډ باصلاحيته او مسلکي پلاوي پر ټاکلو هم پرېکړه وشوه. دغه پلاوی به په نږدې وخت کې له ايران سره پر بېلابېلو موضوعات بحثونه وکړي.

اقتصادي کمېسيون همدا راز پرېکړه وکړه چې د اوبو او انرژۍ وزارت دې په سرپل ولايت کې د سلطان ابراهيم درې او شيرآبه بندونو لومړۍ سروې ترسره او د ډيزاين چارې بشپړې کړي. سلطان ابراهيم بند د 20 ميګاواټه برښنا پر توليد سربېره، 250 زره جريبه ځمکه هم خړوبوي، چې په تخميني ډول پر دواړو بندونو باندې 124 ميليونه ډالره لګښت راځي.

د اقتصادي کمېسيون په دغه غونډه کې ټولګټو او ښارجوړونې وزارتونو ته دنده وسپارل شوه، چې د سرپل ولايت د ښاري حلقوي سړک سروې ترسره او ډيزاين يې بشپړ کړي. په دغه غونډه کې همدارنګه پرېکړه وشوه چې په سرپل ولايت کې به د څلورو ميليونو افغانيو په لګښت د يو بل بند د جوړولو کارونه هم پيل شي، چې 7 زره هکتاره ځمکه خړوبوي.





# سفرونه

## الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند پکتیکا او خوست ته له زلزله ځپلو سره د خواخوږۍ او غم‌شریکۍ په موخه سفر وکړ

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند پکتیکا او خوست ته له زلزله ځپلو سره د خواخوږۍ او غم شریکۍ په موخه سفر وکړ

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند خوست او پکتیکا ولایتونو ته سفر وکړ او هلته یې د زلزلې له امله له زیانمنو شوو هېوادوالو سره د خواخوږۍ په موخه لیدنه وکړه.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند زیانمنو شوو ته تسلیت ووایه او ځان یې د هغوی په غم کې شریک وباله. محترم ملا صاحب زیاته کړه، اسلامي امارت ستاسې تر څنګ ولاړ دی او تر هغو به مو همکاري او لاس‌نیوی وکړي، څو مو چې وران شوي کورونه بېرته ورغول شي او ژوند مو عادي حالت ته راوګرځي.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند وروسته له هغه چې دغو سیمو ته یې لسګونه ټنه خوراکي توکي، درمل، البسه او خیمې استولي وو، له ځان سره یې 53 میلیونه نغدې افغانۍ هم یوورې، چې زیانمنو شوو هېوادوالو ته یې د کورونو د آبادولو او سرپناه جوړولو لپاره ورکړې.

پر دغو مرستو سربېره به نوري میلیونونه افغانۍ نغدي مرسته هم د حاجي ملا صاحب له لوري په راتلونکو څو ورځو کې ور واستول شي. دغه پیسې به پېښو ته د رسېدو کمېسیون له لوري په شفاف ډول پر مستحقینو ووېشل شي.

د سیمې مخورو، قومي مشرانو، امامانو او زیانمنو هېوادوالو د زړه له تله له اسلامي امارت او په ځانګړي ډول له ملا صاحب برادر اخوند څخه مننه وکړه، چې دوی یې په سخت حالت کې یاد کړل او د غمرازۍ په موخه یې دغه سیمې ته سفر وکړ. د سیمې خلکو اسلامي امارت د ځان او ولس نظام وباله او ویې ویل چې د غم په دغه حالت کې ځانونه یوازې نه احساسوي.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال هم اسلامي امارت د ولس نظام وباله او ویې ویل چې دا نظام ستاسې د قربانیو او سرښندنو په نتیجه کې راغلی، چې تل به مو تر څنګ ولاړ وي. ملا صاحب د ټولو هغو افغانانو، سوداګرو، نړیوالو هېوادونو او ټولنو له مرستو هم مننه وکړه، چې له زلزله ځپلو افغانانو سره یې وکړې او کوي یې.





# الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند ننګرهار ولایت ته سفر وکړ

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د 1444هـ.ق کال د محرم‌الحرام میاشتې په اوومه نېټه د پنجشنبې په ورځ ننګرهار ولایت ته سفر وکړ.

ښاغلي ملا عبدالغني برادر اخوند د ننګرهار ولایتي مسؤلینو په ملتیا د ننګرهار کانال پروژې اړوند د زیتونو او ترکاڼۍ فابریکو، خرما بڼ او یو شمېر نورو پروژو څخه لیدنه وکړه. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د دغو پروژو د مسؤلینو له ترسره شوو هڅو ستاینه وکړه او هغوی ته یې د کارونو د لا ښه والي په موخه لازمې سپارښتنې وکړې.

د ننګرهار کانال پروژه 70 کیلومتره اوږدوالی لري، چې د افغانستان په شرق کې د اوبو لګونې او ابو مدیریت تر ټولو لویه پروژه ګڼل کېږي. دغه پروژه د 25 زره هکټاره مساحت په درلودو سره د ننګرهار ولایت په غني خیلو، مهمند دره، بټي کوټ، سرخ رود او بهسود ولسوالیو کې 22 زره هکټاره کرنیزه ځمکه او 3 زره هکټاره بڼونه تر خپل پوښښ لاندې راولي.

د ننګرهار کانال پروژه کې د سولري برښنا په واسطه 20 زره جریبه ځمکه خړوبېږي، چې زرګونو کسانو ته یې په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره کړې ده. د دغه کانال پر سولري برښنا د آسیا پرمختیایي بانک له لوري 142 میلیونه افغانۍ لګښت شوی، چې د 1.2 میګاواټه برښنا په تولید سره یې د دغه کانال د برښنا د کمښت ستونزه تر ډېره هواره کړې ده.

د ننګرهار کانال پروژه کې د زیتونو او ترکاڼۍ پر فابریکو او خرما بڼ سربېره د کبانو روزنې لسګونه فارمونه هم جوړ شوي، چې عملاً یې محصولات بازار ته وړاندې کېږي.

محترم الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د «ننګرهار کانال پروژه» یوه ملي او حیاتي پروژه وبلله او د رامنځته شوو نوښتونو له امله یې د مسؤلینو د هڅو قدرداني وکړه. د یادولو وړ ده چې د اسلامي امارت په راتګ سره تر تېر کال د دې پروژې د زیتونو حاصلات زیات شوي دي.



# الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د کجکي بند د دویم فاز ګټې اخیستنې مراسمو کې د ګډون په موخه هلمند ته سفر وکړ

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د کجکي بند د دویم فاز ګټې اخیستنې مراسمو کې د ګډون په موخه د 1443هـ ق کال د ذوالحجة الحرام میاشتې په 27مه نېټه د چهارشنبې په ورځ هلمند ولایت ته په سفر لاړ.

د دغه بند د دویم فاز ګټې اخیستنې مراسمو کې د ریاست‌الوزراء پر اقتصادي مرستیال سربېره، د ریاست‌الوزراء اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي، د اوبو او انرژۍ وزارت سرپرست مولوي عبدالطیف منصور، د اقتصاد وزارت سرپرست قاري دین محمد حنیف، دبهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال شیر محمد عباس ستانکزي او ځینو نورو لوړپوړو دولتي چارواکو هم ګډون کړی و.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند دغو مراسمو ته د خپلې وینا پر مهال وویل: «پرته له شکه چې نن موږ او تاسې داسې یو ولایت او سیمې ته راغلي یو چې د تېر شل کلن جهاد پر مهال یې خلکو بې‌ساري قرباني ورکړې دي، د دوی د قربانیو مثال له دوو-دریو ولایتونو پرته په ټول افغانستان کې نشته.»

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، موږ د هلمندیانو او ټولو افغانانو د قربانیو او ستړیاوو قدرداني کوو او الله تعالی ته دعا کوو چې د دوی ټولو قرباني او ستړیاوې قبولې کړي. اوس چې په افغانستان کې بشپړ اسلامي نظام حاکم دی، د ټولو مسؤولینو هڅه دا ده چې د ولس ستونزې حل کړي او هغه لویې اقتصادي پروژې پیل او بشپړې کړي چې له مخې یې ډېرو خلکو ته د کار زمینه برابرېږي. موږ په ډېر کم وخت کې دا دي نن د ترکیې هېواد په همکارۍ د افغان ولس د هوساینې په موخه یوه لویه پروژه ګټې اخیستنې ته سپارو، چې پر اساس به یې 100 مېګاواټه برېښنا زیاته شي.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د دغه فاز د ګټې اخیستنې مراسمو ته وویل، اسلامي امارت د هېواد د ابادۍ لپاره پوره ژمن دی او ښې برنامې لري، موږ په نږدې تېر وخت د دې پروژې په څېر ځینې نورې لویې پروژې هم پرانیستې دي، چې ښه نمونه یې په کابل کې افغان انویسټ شرکت دی. موږ ټولو هېوادوالو ته دا ډاډ ورکوو چې په نږدې راتلونکي کې به ډېر مثبت اقتصادي تحولات ولرو.

د کجکي نبد د دویم فاز پروژې کارونه د 77 ترکي شرکت له لوري ترسره شوي چې 100 میګاواټه برېښنا تولیدوي. د دغه فاز په ګټې اخیستنې سره د کجکي بند د برېښنا د تولید ظرفیت 151 میګاواټو ته لوړ شوی.

### د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند

# ارزګان ته سفر وکړ

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د حج فریضې مناسکو تر اداء کولو او افغانستان ته تر راستنېدلو وروسته د 1443 قمري کال د ذوالحجة الحرام میاشتې په 26مه نېټه د سه‌شنبې په ورځ د خپل پلرني ټاټوبي ارزګان ولایت دهراود ولسوالۍ ته سفر وکړ.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند ارزګان ته د خپل سفر پر مهال د دغه ولایت له مسؤولینو، مجاهدینو او عامو خلکو سره وکتل، د وروستیو بارانونو له کبله زیانمنو شوو هېوادوالو ته په وخت د لازمو مرستو رسولو او په بېلابېلو برخو کې د ترسره شوو کارونو ستاینه یې وکړه.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال ټولو مسؤولینو ته د کارونو د ښه ترسراوي په اړه لازمې سپارښتنې وکړې او له دوی یې وغوښتل چې په ډېر صداقت او رښتینولۍ سره د دغه ځوربدلي ملت خدمت وکړي. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، دا هغه خلک دي چې د اسلامي نظام د راتګ لپاره یې هر ډول قرباني ورکړې دي او ډېر تکلیفونه یې ایستلي دي، اوس یې حق دی چې اسلامي امارت ورته د ارام ژوند زمینه برابره کړي.

الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د سیمې له اوسېدونکو، سپین‌ږیرو او مخورو سره د لیدلو پر مهال هغوی ته ډاډ ورکړ، چې اسلامي امارت د دوی ژوند ښه کولو، بېکارۍ کچې له منځه وړلو او د ولس ستونزو حلولو لپاره شپه او ورځ کوښښ کوي او په دغه برخه کې له نېکه‌مرغه ښې لاسته راوړنې هم لري.

د سیمې اوسېدونکو هم د اسلامي امارت د ملکي او نظامي مسؤلینو له چلنده خوښي څرګنده کړه او ویې ویل، دوی خوشاله دي چې پر ټول افغانستان بشپړ اسلامي نظام حاکم شوی او نور د نفرت، قومي تعصب او نفاق لمن ورټوله شوې ده.



## اقتصادي موضوعاتو اړوند

# مقالـــــي

# د ا.ا.ا په یو کلن مزل کې

## د هېواد اقتصادي وضعیت ته ځغلنده کتنه

**لیکوال: احمدشاه راشد**

**په دې مقاله کې د ا.ا.ا په یو کلن مزل کې د هېواد اقتصادي وضعیت ته ځغلنده کتنه شوې؛ سوداګرۍ، د افغانۍ ارزښت د بهرنیو اسعارو پر وړاندې، انفلاسیون، نفوس او بې کارۍ، اقتصادي وده، ملي بودیجه، پانګونې او بانکدارۍ وضعیت او هغه بنیادي پروژې چې افغانستان د مرکزي اسیا او سوېلي اسیا د وصل په نقطه بدلوي په دې مقاله کې پرې بحث شوی هیله ده ویې لولئ.**

## مقدمه

د کابل اداري له ړنګېدو او پر ټول هېواد د اسلامي امارت له واکمنېدو سره الحمدالله په هېواد کې جګړې او شل کلن اشغال پای ومومند؛ خو له بلې خوا له دغه ستر تحول سره هېواد له یو لړ اقتصادي ستونزو سره مخ او هېوادوال مو په دې تړاو اندېښمن شول او تر ټولو مهمه ستونزه چې سملاسي یې هېوادوال اغېزمن کړل، هغه د امریکا له لوري د افغانستان بانک د ارزي شتمنیو کنګل کېدل وو، چې له امله یې د افغانستان بانک د نغدو پیسو له کمښت سره مخ شو او له دې کبله خصوصي بانکونه د پیسو د ورکړې څخه ناتوانه شول، خو د افغانستان بانک او په ټوله کې د افغانستان اسلامي امارت رهبرۍ وکولای شول چې د هېواد بانکي نظام له دغو ستونزو راوباسي او اوس ورځ تر بلې د بانکدارۍ خدمات په هېواد کې نورمال حالت ته روان دي. د یوه هېواد اقتصادي وضعیت نه یوازې دا چې پر نورو سکټورونو اغېزې کوي، بلکې په اوسنۍ نړۍ کې د حکومتونو دوام هم پر اقتصادي وضعیت متکي وي، افغانستان، چې اوږد تاریخ لري، هم په مختلفو تاریخي دورو کې په اقتصادي هلو ځلو کې بوخت پاتې شوی؛ خو بیا هم په دغو ټولو تاریخي پړاوونو کې د افغانستان اقتصاد تر ډېره له ناامنیو، کورنیو جګړو او یرغلونو له کبله اغېزمن شوی دی. اوسمهال افغانستان له امنیتي ثبات څخه برخمن دی خو اقتصادي وضعیت یې په هغه شکل چې د شته نظام غوښتنه ده هغسې نه دی خو د وضعیت د ښه کېدو لپاره کلکې هڅې روانې دي او د محترم امیرالمومنین شیخ هبة الله اخوندزاده صاحب (حفظ الله) په هدایت او د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسیون رامنځته کېدل د دې ښکاره دلیل دی چې اقتصادي وضعیت ښه کېدل د اسلامي امارت لومړیتوب دی او دغه کمېسیون د سکټوري وزارتونو، ادارو، سوداګرو او په ټوله کې له نړیوالو سره پر دې کار کوي چې د افغانستان په اقتصادي وضعیت کې مثبت تغییر راشي او په دې برخه کې ډېر پرمختګ هم شوی دی.

په دغه برخه کې د افغانستان سوداګرۍ، انفلاسیون، ملي بودیجه، نفوس او بې کارۍ، اقتصادي ودې، پانګونې، افغانۍ ارزښت، بانکدارۍ او د سیمه‌ییزو پروژو پیل برخو ته کتنه شوې. دغه برخه کې مو تر ډېره د افغانستان احصائیوي کلنیو ارقامو څخه استفاده کړې.



**د محترم امیرالمومنین شیخ هبة الله اخوندزاده صاحب (حفظ الله) په هدایت او د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسیون رامنځته کېدل د دې ښکاره دلیل دی چې اقتصادي وضعیت ښه کېدل د اسلامي امارت لومړیتوب دی او دغه کمېسیون د سکټوري وزارتونو، ادارو، سوداګرو او په ټوله کې له نړیوالو سره پر دې کار کوي چې د افغانستان په اقتصادي وضعیت کې مثبت تغییر راشي او په دې برخه کې ډېر پرمختګ هم شوی دی.**

# سوداګري

د 1400 لمریز کال د رسمي ثبت شوو توکو د صادراتو ارزښت 850.1 میلیون ډالر وو، چې قاچاق او بیاځلې صادر شوي مالونه پکې نه شاملېږي. په 1400 لمریز کال کې ثبت او راجستر شوي صادرات د 1399 کال په پرتله 9.4 سلنه (د 776.7 میلیون امریکایي ډالرو څخه، 850.1 میلیون امریکایي ډالرو ته) زیاتوالی کړی.

باید وویل شي، چې په دې کال کې د تازه او وچو میوو صادرات 39.1 سلنه د هېواد ټول صادرات جوړوي. په 1400 لمریز کال کې د غالیو په صادراتو کې د 1399 لمریز کال په پرتله 82.6 سلنه زیاتوالی راغلی دی.




**ماخذ:** احصاییوي کالنی ۱٤۰۰

په 1400 لمریز کال کې د افغانستان د صادراتو اندازه نظر 1399 لمریز کال ته چې د اشغال دور و 10 سلنه زیاتوالی راغلی، چې په صادراتي توکو کې په ترتیب سره وچې مېوې، طبي بوټي او تازه مېوې د هېواد د ټولو صادراتو 55 سلنه جوړوي، چې ډېری برخه یې ګاونډیو هېوادونو ته صادر شوي دي.





**په 1400 لمریز کال کې د غالیو په صادراتو کې د 1399لمریز کال په پرتله 82.6 سلنه زیاتوالی راغلی دی.**



په 1400 لمریز کال کې د رسمـي ثبت شوو محصولي وارداتي توکو ارزښت تر 5307.8 میلیـون ډالرو پورې رسـېږي. د پورتنیو رسـمي ثبت شـوو توکو په ټوله کې قاچاق او مرسـته شـوي مالونه چې لـه ګمرکي محصـول څخه معاف شـوي، شـامل نـه دي. چې پـه وارد شـویو کې زیاته سـلنه د خوراکي توکو، نفتي توکو او ماشـینونو ده چـې د ټولـو وارداتي توکو 56 سـلنه جوړوي، ډېرې برخه یې د ګاونډیـو او د سـیمې هېوادونـو څخـه وارد شوي دي.



ماخذ: احصاییوي کالنۍ ۱۴۰۰

# د افغانۍ ارزښت

دا چـې د افغانسـتان اسـلامي امـارت لـه حاکمیـت یـو کال تېریـږي د تېـر یـو کال پـه دوران کـې د هېـواد پـولي واحـد هـم د بهرنیو اسـعارو پر وړاندې د ارزښـت له اړخه یـو لړ سـتونزو سره مخ ؤو، چـې کله به یې خپـل ارزښـت د بهرنیـو اسـعارو خصوصـآ د ډالـر پـر وړانـدې له لاسـه ورکـړ کله بـه لوړ شـو. د 2021 م کال اګسـټ میاشـتې پـه لومړۍ نیټـه یـو ډالر پـه اوسـط ډول د 80 افغانیـو پـه بـدل کـې تبادلـه کېـده؛ خـو د ولایتونـو د سـقوط د لـړۍ لـه پیـل سره د افغانـۍ د ارزښـت ټیټېـدو لـړۍ ګړنـدۍ شـوه. د کابـل اداري لـه ړنګېـدو سره پـه هېـواد کـې ټـول بانکونـه او صرافـۍ وتړل شـول، خـو کلـه چـې د 2021 م کال د سـپټمبر پـه 4مه شـهزاده سرای بیا فعالیت پیـل کـړ، د یـوه ډالر بیـه 87 افغانۍ وه چې بیـا ورو ورو د افغانۍ ارزښـت کنټرول شـو او کـه څـه هم د څـو ورځو پـه تېرېدو سره د ډالـر بیـه تـر 83 پـورې هم راښـکته شـوه، خـو د وخت په تېرېـدو سره بیا تر 95 پورې لوړه شـوه خـو د تبادلې پـه بـازار بانـدې د مافیایـي کـړۍ حاکمېـدل د دې سـبب شـول، چې د 2022 م کال د جنـورۍ میاشـتې پـه وروسـتیو کـې د ډالـر بیـه 127 افغانیـو تـه ورسـېده، چـې د افغانسـتان بانـک د سـم مدیریت له املـه بېرته 90 ته را ښـکته شـوله خو دغـه وضعیـت ثابت نـه دی هره ګړۍ امـکان لـري د افغانۍ ارزښـت کم یا هـم زیـات شي. شـته سـتونزو او وضعیت ته پـه کتلو سره له اقتصادي پلـوه تحلیـل دا دی چـې افغانـۍ تـر اوسـه خپـل ارزښـت هومـره نـه دی بایللـی چـې تمـه یـې کېـده. د نورو بېلابېلـو عواملـو ترڅنګ،تقریبا تـر 120 زره زیـات افغانـان لـه هېـواده وتـلي او که یـوه عادي محاسـبه هم ولرو نـو دغـو افغانانو د افغانسـتان لـه مارکېټ څخه شـاوخوا یـو میلیارد ډالـره ایسـتلي دي، خـو بیـا هـم افغانۍ خپل ارزښـت هومره له لاسه نـه دی ورکـړی. یـو عامـل دا دی چې حکومتـي لګښـتونه کم شـوي او له



کبله یې پر افغانۍ فشار کم دی. همدا راز د بانکي ستونزو له کبله واردات هم کم شوي چې ورسره پر افغانۍ هم فشار کم دی. له دې سره سره، اړتیا ده چې هغه عوامل وپېژندل شي چې د افغانۍ د ارزښت په ټیټېدو کې یې رول لرلی. د افغانستان بانک یو اصلي کار د انفلاسیون مدیریت او د توکو او خدماتو د نرخونو ثبات دی او د دې موخې ترلاسه کولو لپاره د تبادلې د نرخ ثبات مهم دی. تر اوسه د افغانۍ ارزښت د بهرنیو اسعارو د لیلام پروسې له لارې ثابت ساتل کېده. د ډالرو د لیلام پروسه د ډالرو د نشتون له کبله کمه تر سره کیږي، چې د بازار اړتیا نشي پوره کولای، چې له کبله یې د نرخونو او د تبادلې د نرخ ثبات تر یوه بریده له تزلزل سره مخ دی. سره له دې چې افغانستان بانک د انفلاسیون په مدیریت کې او د افغانۍ د ارزښت په ثبات کې مهم رول لري، خو نور عوامل هم شته دي چې د افغانۍ پر ارزښت اغېزې لري. زیاتې عرضې او کمې تقاضا په تېرو شلو کلونو کې د افغانۍ پر ارزښت فشار اچاوه، چې د ډالرو تزریق یې دایمي او باثباته وسیله نه وه او اوس چې بهرنۍ مرستې هم نشته پر افغانۍ فشار زیات شوی. عمومي اقتصاد او اقتصادي وده او صادرات او واردات بله هغه قضیه ده چې مستقیما د مبادلې پر نرخ اغېز لرلی شي.




**ماخذ:** احصاییوي کالنۍ 1400





# انفلاسیون

انفلاسیون یا د پیسو پړسوب، چې په عمومي او دوامداره توګه د بیو لوړوالي ته وایي، هم د تېرو دوو لسیزو راهیسې په افغانستان کې د اقتصاد پوهانو او خلکو له نظره یوه د بحث وړ موضوع او د هېواد یوه اقتصادي ستونزه ده؛ ځکه دا په نېغ ډول د خلکو له ژوند سره تړاو لري. دا چې په افغانستان کې اشغال پای موندلی او د اوږدې جګړې وروسته امنیت تامین شوی دی او د هېواد ډېری زیربناوې، فابریکې، صنعت او زراعتي نظام تباه شوی دی، نو تر ډېره افغانستان په دغه وخت کې پر یوه وارداتي هېواد بدل شوی. په ډېره لوړه کچه د وارداتي توکو له راتګ سره په هېواد کې یو ډول وارداتي انفلاسیون رامنځته شوی. د نړیوال بانک د راپورونو په اساس د تېرو دوو لسیزو په جریان کې په دوامداره توګه د توکو بیې لوړې شوې دي علت یې هم د وارداتو زیاتوالی او د کورنیو تولیداتو کموالی په ګوته شوی، خو په تېر یو کال کې، چې د افغانستان اسلامي امارت د هېواد واګې په لاس کې اخیستې هڅه کوي، چې کورني تولیداتو اندازه زیاته کړي تر څو د وارداتو اندازه کمه شي. په 1400 لمریز کال کې نظر 1399 لمریز کال ته د اجناسو او خدمتونو په وارداتو کې 19.3 سلنه کموالی راغلی، چې دا دې افغانستان اسلامي امارت د هڅو پایله ده. په 1400 لمریز کال کې د خوراکي توکو بیو کې 5,5 سلنه زیاتوالی راغلی دی په داسې حال کې چې په 1399 کال کې د خوراکي توکو بیو کې 10 سلنه زیاتوالی یې درلود. د هېواد په کچه د خوراکي توکو د بیو په زیاتوالي کې د غلو دانو شاخص 6.7سلنه، غوړي 29 سلنه او بوره 7.9 سلنه زیاتوالی لري.



ماخذ: احصاییوي کالنی 1400

په پورته جدول کې د 1400 لمریز کال، چې د افغانستان اسلامي امارت حاکم شوی او 1399 لمریز کال کې اشغال دور د خوراکي توکو بیې سره پرتله کړو یوازې د غوړیو په بیو کې په 1400 لمریز کال کې نظر 1399 لمریز کال ته زیات زیاتوالی راغلی نور د اکثریت خوراکي توکو بیې په 1399 لمریز کال کې نظر 1400 لمریز کال ته ډېرې لوړې شوې دي.

# نفوس او بې‌کاري

د نفوس حجم، د زیاتېدو وده او جوړښت یې په اقتصادي او ټولنیز پرمختګ کې مهم رول لوبوي. له همدې ځایه ده، چې د وګړو په تړاو احصایې د پرمختیایي پلان جوړونې، د اقتصادي تګلارو چارچوب جوړولو او ودې او پرمختګ ښودونکې دي. د احصایې او معلوماتو ملي اداري د راپور پر اساس د هېواد د ټولو وګړو شمېر په 1400 لمریز کال کې نیږدې 33.6 میلیونه تنه اټکل شوی چې له دې ډلې څخه 51 سلنه یې نارینه او 49سلنه یې ښځینه جوړوي. د وګړو وېش په ښاري او کلیوالي سیمو کې ښايي چې د هېواد د مېشتو وګړو له جملې څخه 23.8 میلیون تنه په کلیوالي سیمو او 8.3 میلیون تنه په ښاري سیمو کې ژوند کوي، سربېره پر دې نیږدې 1.5 میلیون تنه کوچیان دي. د افغانستان د وګړو روښانه ځانګړتیاوې د هغوی د ډېر ځوان عمرونو جوړښت دی. نیږدې47.2 سلنه، چې 16 میلیون تنه کېږي د 15 کلنۍ عمر لاندې دي. همدا ډول د زیات عمر لرونکي یعني 65 کلن او د هغه څخه د لوړ عمر لرونکي 2.7 سلنه جوړوي. تر 15 کلنۍ عمر لاندې وګړو سلنه د ګاونډیو هېوادونو په پرتله د پام وړ ډېره لوړه ده. د تېرو دوو لسیزو په دوران کې هر کال د افغانستان د کاري ځواک حجم زیاتیږي، چې دا د افغانستان د سریع اقتصادي پرمختګ لپاره مثبت ټکی دی خو که وګورو د تېرو دوو لسیزو په جریان کې د هېواد د بېکارۍ د کچې د راټیټېدو لپاره هېڅ نوع کړنلاره نه ده پلې شوې ورځ تر بلې کاري ځواک زیاتیږي خو د دې کاري ځواک د مصروفیت لپاره مارکېټ نشته دی د تېر یو کال په جریان کې د افغانستان اسلامي امارت هڅه وکړه تر څو د هېوادوالو لپاره کار زمینه برابره کړي، خو بیا هم په دومره کم وخت کې د بې‌کارۍ د ستونزې له منځه وړل یا هم کمول ممکن نه وي نو له همدې امله د بې‌کارۍ موضوع په افغانستان کې ډېره جدي ده او ورځ تر بلې د بې‌کارانو شمېره زیاتېږي. په موقتي توګه د بې‌کارۍ د ختمولو لپاره اړینه ده، چې زراعت ته پاملرنه وشي، ځکه د افغانستان ډېرى خلک له زراعت سره تړل شوي دي. د دې ترڅنګ د افغانستان د معادنو سکتور هم ډېرې ورتیاوې لري او په کارموندنه کې مهم رول لوبولای شي.

| گروپ سن | ملي/ ملی National دواړه جنسونه/ هر دو جنس Both sexes | نارینه/ ذکور Male | ښځینه/ اناث Female | ښاري/ شهری Urban دواړه جنسونه/ هر دو جنس Both sexes | نارینه/ ذکور Male | ښځینه/ اناث Female | کلیوالي/ دهاتی Rural دواړه جنسونه/ هر دو جنس Both sexes | نارینه/ ذکور Male | ښځینه/ اناث Female | کوچیان/ کوچی Nomadic دواړه جنسونه/ هر دو جنس Both sexes | نارینه/ ذکور Male | ښځینه/ اناث Female |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| مجموع Total | 33,569,160 | 17,118,902 | 16,450,258 | 8,294,708 | 4,190,731 | 4,103,977 | 23,774,452 | 12,135,888 | 11,638,564 | 1,500,000 | 792,283 | 707,717 |

ماخذ: احصاییوي کالنۍ 1400



# اقتصادي وده

د هېواد اقتصادي ودې وضعیت ته که په تېرو شلو کلونو کې نظر واچوو تر ډېره پورې د هېواد اقتصادي وده په بهرنیو مرستو چې له هغه سره د هر کال په تېرېدو د خدماتو اندازه لوړېده تړلې وه یعني په کرنه، صنعت او تولید کې کوم بنیادي کار نه دی تر سره شوی، تر څو په اقتصادي وده باندې مثبت اغېز وکړي. د تېرو شلو کلونو په دوران کې د هېواد مصنوعي اقتصاد، چې تقریبا تر 75 سلنې پورې ملي بودیجه په بهرنیو مرستو متکي وه. په 2005م کال کې اقتصادي وده 5.6 سلنه وه په 2008 م کال کې اقتصادي وده 3.6 سلنه وه په 2014م کال کې 1.3 سلنه وه په 2018 م کال کې اقتصادي وده 2.2 سلنه وه په 2020م کال کې اقتصادي وده 2.2- سلنه شوه او په 2021 م کال کې له 2020 م کال هم ښکته شوه عوامل یې د هېواد اشغال، کرونا او دلته حاکم فاسد نظام وو. د هېواد په داخل کې د تولید مجموعي ارزښت په 2006 م کال کې د افغانستان د تولید مجموعي ارزښت 12611 مېلیونه افغانۍ و، چې دا بیا په 2010 م کال کې 8949 مېلیونه افغانۍ ته ورسېد. په 2011 او 2012 م کلونو کې 10562 او 10843.1 مېلیونو افغانیو ته لوړ شو، خو په 2014 کال کې 7315 ملیونو افغانۍ ته بېرته راولوېد، او تر 2021 م کال پورې د تولید مجموعي ارزښت ارقام همداسې کله لوړ او کله ښکته کېدل خو داسې کوم مثبت تغییر پکې رانغی. په 2021م کال کې، چې په هېواد باندې بیا ځل د افغانستان اسلامي امارت حاکم شو د کورني ناخالص تولید ارزښت 1232.89 میلیارده افغانۍ او کورني ناخالص سړي سر تولید 36725افغانیو ته رسېده، د کرنې، صنعت او خدمتونو سکټورونو په ترتیب سره په کورني ناخالص تولید کې 33.48 سلنه، 15.59 سلنه او 46،51 سلنه ونډه لرلې ده همدارنګه د اشغال کلونو په دوران کې د مثال په ډول په 2020 م کال کې د کرنې، صنعت او خدمتونو سکټورونو کې په ترتیب سره په کورني ناخالص تولید کې 26.82 سلنه، 14.03 سلنه او 54.69 سلنه ونډه لرلې ده. که چېرې د 2021م کال او د 2020 م کال د کرنې، صنعت او خدمتونو سلنې سره پرتله کړو، معلومیږي، چې په 2021 م کال کې اساسي برخې، چې په اوږدمهال کې د کورني ناخالص تولید د ثابت پاتې کېدو او لوړېدو سبب کیږي هغه د کرنې او صنعت برخې دي، چې په 2020 م کال کې په کورني ناخالص تولید کې د کرنې ونډه 26.82 سلنه ده او په 2021 م کال کې 33.48 سلنې ته لوړه شوې، چې 6.66 سلنه زیاتوالی ښه یې دا په داسې حال کې ده، چې په 2021 م کال کې نظر 2020 م کال ته وچکالي هم زیاته وه. د یادولو وړ ده چې د تېرو دوو لسیزو په لړ کې هېڅ داسې بنیادي کار تر څو هغه په اوږدمهال کې په اقتصادي وده باندې مثبت تاثیر ولري ترسره نشو او په دې وروستیو کلونو کې په نړۍ کې د کرونا وبا خپرېدل چې نه یوازې د افغانستان اقتصادي وضعیت یې له چلېنج سره مخ کړ او اقتصادي وده منفي تاثیر وکړ بلکې د نړۍ اقتصادي وضعیت یې هم سخت زیانمن کړ، دا او د هېواد اشغال د دې سبب شول، چې اقتصادي وده لوړه نه شوه او د افغانستان اسلامي امارت له راتګ څخه یو کال تېرېږي او هڅه یې داده تر څو په ټوله کې اقتصادي وضعیت ښه شي.





# ملي بودیجه

د کابل له فتحې وروسته چې اسلامي امارت پر ټول هېواد حاکم شو؛ د عمومي عفوې اعلان یې وکړ او له ټولو ملکي کارمندانو یې غوښتنه وکړه، چې خپلو کارونو ته د تېر په څېر ادامه ورکړي حقوق او امتیازات به مو د پخوا په شان اجراء کېږي، په 1400 لمریز کال کې د دولت د ټولو کارکوونکو شمېر 405863 تنه راپور ورکړل شوی دی، چې له دې ډلې 78 سلنه نارینه او 22 سلنه ښځینه کارکوونکې دي. دا چې اسلامي امارت د کال په نیمایي کې پر ټول هېواد حاکم شو نو له همدې وجې یې د کابل د وخت اداري د عادي بودیجې له مخې یې د حکومت ملکي کارمندانو حقوق او امتیازات اجراء کړل او د کابل د وخت اداري؛ مالي کال له عیسوي کال سره تنظیم کړی وو، چې پیل یې د لومړي کال د جدي اول او پای یې د راتلونکي کال د قوس تر 30 مې پورې وو، نو له همدې امله اسلامي امارت د 1400 لمریز کال پاتې درېیو میاشتو (جدي، دلو او حوت) لپاره بودیجه جوړه کړه، دغه بودیجه په ټوله کې 53،9 میلیارده افغانۍ وه، چې له دې جملې 49،2 میلیارده افغانۍ عادي بودیجه او 4،7 میلیارده افغانۍ پراختیایي بودیجه وه. د درېیو وروستیو میاشتو د بودیجې د تصویب موخه هجري لمریز کال ته د مالي کال اړول وو. تر دې وروسته به د هیواد مالي چارې د هجري لمریز کال له پیل څخه پیلیږي. د 1401لمریز مالي کال ملي بودیجه 231.4میلیارده افغانۍ ده، چې له دې شمېر څخه 203.4میلیارده افغانۍ یې عادي بودیجه او 27.9 میلیارده افغانۍ یې انکشافي بودیجه ده، چې په بشپړه توګه له کورنیو عوایدو څخه ترتیب شوې او هېڅ ډول بهرني مالي ملاتړ نه لري. د 1401 لمریز مالي کال بودیجې هدف 186 میلیارده افغانیو څخه پورته ټاکل شوی وو او د بودیجې کسر 44 میلیارده افغانۍ اټکل شوی دی. تمه شته چې دغه اندازه به د کورنیو عوایدو د کچې لوړېدو پر اساس تمویل شي او همدارنګه د هیواد پر مالي سرچینو وضعه شوو محدودیتونو ته په کتو انکشافي بودیجه کې یواځې هغه پروژې په نظر کې نیول شوي دي، چې عواید یې د نورو پروژو په پرتله زیات دي او له اقتصادي اړخه د خلکو پر ژوند مستقیم اغېز لري، چې د ربل پټلۍ او قوشتېپې کانال پروژې یې مهمې بېلګې دي.

# د پانګونې وضعیت

عموماً په یوه وروسته پاتې اقتصادي ټولنه او په تېره بیا له جګړې ځخه په راوتلي هېواد کې تر ټولو زیاته پانګونه په ساختماني کارونو (کور، سړک، دوکان او نور)، کرنې، خدمات او په صنعتونو کې کېږي. افغانستان هم له دغې ځخه مستثنا نه دی. د ساختماني کارونو، خدماتو او صنعتونو په سکټورونو کې پانګونه بیا تر ډېره پر امنیت متکي وي. هر څومره چې امنیت ټینګ وي او د امنیت د خرابېدو اټکلونه کم وي، نو په طبیعي ډول په دغو برخو کې پانګونه ډېره کېږي، چې الحمدالله د افغانستان اسلامي امارت په راتلو سره په ټول هېواد کې سرتاسري امن قایم شوی، چې ساری یې په تېرو څلورو لسیزو کې نه دی لیدل شوی. له همدې ځایه ده چې په افغانستان کې د تېر یو کال په جریان کې نظر تېرو کلونو ته په مختلفو برخو کې پانګونې ته زمینه برابره شوې ده، او د افغانستان اسلامي امارت ټولو کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته د پوره همکارۍ او د سر او مال د ساتنې ډاډ ورکړی، چې راشئ په مختلفو سکټورونو کې پانګونه وکړئ، ښه مثال یې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند له لوري د افغان انوېسټ په نامه د محدودالمسؤولیت شرکت پرانیسته ده، چې په لومړي ځل د انرژۍ په سکټور کې د 250 مېلیون ډالرو په اندازه پانګونه کېږي. همدارنګه په پېروزي ښارګوټي کې د 216 میلیونه ډالرو په پانګونې سره د صنعتي پارک جوړېدل دي د یادولو وړ ده، چې د دغه صنعتي پارک پرانیسته هم د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په شتون کې د ښارجوړونې وزارت او ننګرهار بیجېنګ ساختماني شرکت له لوري وشوه. همدا ډول د قوش تېپې کانال پرانیسته، چې په بشپړېدو سره به یې هېواد د غلو دانو له اړخه خودکفا شي او په میلیاردونو افغانۍ مصرف پرې راځي. په ساختماني برخه کې پانګونه د تېر یو کال په جریان کې کمه شوې خو د صنعت، زراعت او خدماتو په برخه کې پانګونه نظر تېرو کلونو ته لوړه شوې ده.

# د بانکدارۍ وضعیت

د افغانستان مرکزي بانک د هېواد په اقتصادي معادلاتو کې اساسي رول لري. د انفلاسیون د مدیریت او د نرخونو د مبادلې د کنټرول ترڅنګ، د هېواد پولي سیاستونه تنظیموي او د ټولو خصوصي بانکونو ترمنځ د پول په حیث کار کوي. د تېر یوه کال په جریان کې د مرکزي بانک چارې له خنډ او ځنډ سره مخ شوې، چې اساسي لامل یې د نغدو پیسو نشتون او د افغانستان د شتمنیو کنګل کېدل وو. همدا راز د شته بندیزونو له کبله له نورې نړۍ سره په راکړه ورکړه کې ستونزې هغه څه وو، چې د افغانستان د بانکدارۍ سیستم یې د تېر یو کال په لړ کې له ستونزو سره مخ کړ. د دې ترڅنګ، د کرونا وبا په 2020 او 2021م کلونو کې د ټولې نړۍ اقتصاد او په ځانګړې توګه بانکي سکټور مخکې له مخکې اغېزمن کړی ؤو، چې



افغانستان هم ترې مستثنا نه دی. د تېر یو کال په دوران کې د افغانستان د بانکونو اساسي ستونزه د سيالیت یا د پیسو د ورکړې ناتواني وه. دا چې د بانکونو د سیالیت موضوع هغومره جدي نه شوه چې د افغانستان بانکي سیستم په ټپه ودروي، څو نکات یې د پام وړ دي. لومړی دا چې د افغانستان شاوخوا 10 تر 15 سلنه وګړي خپل سوداګریز معاملات د بانکونو له لارې اجرا کوي، او 90 سلنه له غیربانکي لارو ترسره کېږي، چې دا د افغانستان بانک لپاره یو څه آسانتیا رامنځته کوي او خاصتا د وروستي بحران په کنټرول کې یو مثبت ټکی وو. بل مثبت ټکی دا ؤو، چې افغانستان پورورۍ نه دی، کله چې یو هېواد پورورۍ وي پر سیالیت او د تبادلې پر نرخ دواړو منفي اثر کوي. همدا راز په مجموع کې په مقایسوي شکل د افغانستان د بانکونو د سیالیت کچه زیاته وه او نغدي پیسې زیاتې لرلې، په ځانګړې توګه یې له امانت پیسو خلکو ته پیسې ورکړلې. سره له دې چې د تېر یو کال په جریان کې د بانکدارۍ سیستم په ټپه ونه درېږ او د افغانستان بانکونه وتوانېدل، چې خپل فعالیت له لږ ځنډ وروسته پیل کړي، خو له شک پرته د نغدو پیسو د نشتون په څېر ځینو ستونزو د بانکدارۍ سیستم ټکنی کړ، چې د وخت په تېرېدو سره دغه ستونزې تر یوه حده پورې حل شوې او د دغه وضعیت دوام بیا کولی شوی په منځ مهال او اوږده مهال کې د افغانستان د بانکدارۍ سیستم له جدي ننګونو سره مخ کړي. د 2021 م کال په سپټمبر په وروستیو کې پر اسلامي امارت د لګول شوو بندیزونو په برخه کې یو څه پرمختګ ولیدل شو، خو لا هم د افغانستان بانک ذخایر منجمد دي. د امریکا د خزانې وزارت د 2021 م کال د سپټمبر په 24مه د دوو جوازونو په صادرولو سره امریکا او ځینې نړیوالو سازمانونو ته له اسلامي امارت سره د راکړې ورکړې اجازه ورکړه، چې د اسلامي امارت تر کنټرول لاندې افغانستان کې د بشري مرستو د وېش زمینه برابروي. دا ګام د اسلامي امارت له هرکلي سره هم مخ شو. له اوس وروسته د افغانستان د بانکي سیستم یوه ننګونه دا ده، چې په نوي نظام کې به د اسلامي اقتصاد اصول پلي کېږي، حال دا چې د نورې نړۍ بانکي سیستمونه پر سودي معاملاتو ولاړ دي. اوس هم د افغانستان د بانکونو شاوخوا 85 سلنه پیسې په نورو حسابونو کې د سودي معاملاتو له کبله په کرنټ یا جاري اکونټونو کې دي او مشتري هر وخت چې وغواړي خپلې پیسې باید واخلي. مګر د اوږدمهاله پانګونو لپاره کار نه دی شوی او دا د افغانستان د بانکدارۍ سیستم لپاره یوه ننګونه ده. د پولي سیاستونو په برخه کې هم په تېرو شلو کلونو کې ستونزې موجودې وې او د افغانستان د پولي سیاستونو موثریت ډېر نه و، چې دوه عمده دلایل یې لرل. لومړی دا چې د افغانستان د اقتصاد 90 سلنه نیمه رسمي یا غیررسمي دی، او د افغانستان بانک تعامل ورسره مشکل و، ځکه د افغانستان بانک تعامل له رسمي سکټور سره و، نو ځکه د پولي سیاست اغېز هم کم و، دویم دا چې له یوه څخه زیات پولي واحدونه په ګردش کې وو، چې له کبله یې پولي سیاستونه کمزوري کړي وو. د کابل اداري هره اونۍ تقریبا 40 مېلیونه ډالره بازار ته وړاندې کول، ترڅو د افغانۍ نرخ او ارزښت ثابت پرې وساتي، خو له دې سره سره د ډالر نرخ په تدریجي ډول 80 ته ورسېد او دا د دې ښکارندویي کوي چې پولي سیاست اغېزناک نه و.



# افغانستان د منځنۍ آسیا او سوېلي آسیا د وصل په نقطه بدلېدونکی دی

افغانستان د خپل جغرافیایي موقعیت له کبله کولای شي، چې له انرژۍ څخه غني منځنۍ آسیا، د انرژۍ له بحران سره مخ سوېلي آسیا سره ونښلوي. په دې اړوند د تاپي، کاسا-زر او ټوټاپ درې پروژې تر کار لاندې دي. له ډېرو مقدماتي کارونو او تړونونو وروسته اوس د دغو پروژو عملي کارونو پیل ته نېږدې شوي دي، چې د تاپي پروژه به راتلونکي پسرلي له هرات ولایت پیل شي دغه پروژې به له یوې خوا د افغانستان د انرژۍ کمبود بشپړ کړي او له بلې خوا به بېکاري ختمه، اقتصادي وده به ګړندۍ او د ترانزیټي فیس له مخې به د عاید یوه ښه سرچینه هم شي.




**تاپي:** دغه نل‌لیکه به هر کال 33 میلیارد مترمکعب ګاز له ترکمنستان څخه د افغانستان له لارې پاکستان او هند ته ولېږدوي. په دې کې د افغانستان کلنۍ برخه 5 مېلیارده متر مکعبه او د هند او پاکستان برخه بیا 14 مېلیارده متر مکعبه ده. دا پروژه به د شاوخوا 10 میلیارده ډالرو په لګښت پلې کېږي؛ خو په دې کې هغه لګښتونه شامل نه دي، چې په افغانستان او پاکستان کې به د دغې نل‌لیکې د جوړېدو پرمهال په امنیتي برخه کې او د نل‌لیکې د ساتلو په موخه کېږي.



**کاسا-زر:** د کاسا-1000 پروژه به له قرغزستان او تاجکستان څخه افغانستان او پاکستان ته برېښنا ولېږدوي. ځکه دغه دواړه هېوادونه په اوړي کې زیاته برېښنا لري او پاکستان بیا د برېښنا له سخت کمښت سره مخ وي.

د دغې پروژې له پلي کېدو سره به افغانستان ته 300 مېګاواټه برېښنا او پاکستان ته 1000 مېګاواټه برېښنا انتقال شي. افغانستان کولای شي، چې خپله برېښنا بیا له دې لارې پاکستان ته هم صادره کړي. دغه پروژه به د افغانستان د برېښنا کمښت پوره کړي، پاکستان ته د برېښنا صادرولو زمینه به مساعده کړي او تقریباً هر کال به افغانستان د ترانزیټي فیس له کبله، له 30 څخه تر 40 میلیون ډالرو پورې عاید ترلاسه کړي.



**ټوټاپ:** ټوټاپ پروژه به ترکمنستان-ازبکستان-تاجکستان-افغانستان-پاکستان د برېښنا په یوه حلقه کې سره ونښلوي او له امله به یې شونې شي، چې افغانستان د برېښنا متحده شبکه ولري او د سیکنرونایزیشن ستونزه به هم حل شي.

د پورته ذکر شوو پروژو ډېری برخه کارونه د تېر یو کال په جریان کې د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ لخوا د اړوندو هېوادونو سره تعقیب شوي دي او اوس هم هڅې روانې دي، چې زر تر زره یې عملي چارې پیل شي د دغو پروژو له پیل سره به زرګونو کسانو ته د کار زمینه برابره شي، په بشپړولو سره به یې هېواد د ګاز او برق له اړخه خودکفا او په سلګونو مېلیون ډالره ټرانزیټي عواید به د حکومت خزانې ته جمع او هېواد به د مرکزي او سوېلي آسیا د وصل پر نقطه بدل شي.

# پایله

له شل کلن اشغال وروسته په هېواد باندې د بیا ځل لپاره د ا.ا.ا حاکمېدل د ملت د شلو کلونو د بې ساري قربانیو پایله ده. ا.ا.ا ته په هېواد کې له ویجاړیو او خراب اقتصادي وضعیت پرته بل څه نه دي ورپاتې، الحمدالله د ا.ا.ا په راتګ سره په ټول هېواد کې بشپړ امن تآمین شوی او د یو محکم مرکزي حکومت بنسټ اېښودل شوی دی، ا.ا.ا رهبري هڅه کوي، چې د هېوادوالو د اقتصادي وضعیت د ښه‌والي لپاره کوټلي ګامونه واخلي او په دې برخه کې یې تر اوسه پورې د کانونو د استخراج، د بهرنیو او کورنیو پانګوالو د جذب، د پانګونې په برخه کې د شته قوانینو په برخه کې د لازمو اسانتیاوې، په خامو موادو د تعرفې کمول، د کوچنیو مالیه ورکوونکو د حمایت په پار د مالیې کمول او د هېواد زیربنایي برخو ته د پاملرنې زیاتېدل، د مثال په ډول د قوش تیپې کانال پرانیسته، چې دومره لویه پروژه د ملي بودیجې تمویلږي په بشپړېدو سره به یې 580000 زره هکتاره ځمکه خړوبه شي او هېواد به مو د غلو دانو له اړخه پر ځان بسیا شي، د پیروزي ښارګوټي صنعتي پارک پرانیسته، چې 150 وړې او لویې فابریکې په کې جوړیږي، افغان انوېسټ شرکت پرانیسته، چې په لومړي ځل 250 مېلیون ډالره پانګونه کوي اولویت یې د ډبرو له سکرو د برېښنا تولید دی،د قشقري تېلو بلاک پرانیسته چې هر ورځ د لسګونو مېلیونو افغانیو په ارزښت نفت استخراجیږي او په نېږدې راتلونکې کې به د آمو حوزې د تېلو مکمل قرار داد یوې بهرنۍ کمپنۍ ته ورکړل شي چې همدلته به د تېلو پروسس کوي، د کجکي بند د دویم فاز پرانیسته، چې 100 مېګاواټه برېښنا تولیدوي او اوس الحمدالله د کندهار او هلمند ولسونو د برق ستونزې ورسره حل شوې دي، د حکومت د عوایدو د راټولولو لپاره د الکترونیکي سیستم رامنځ ته کول، چې اوس الحمدالله په پوره شفافیت سره عواید د حکومت خزانې ته جمع کیږي، حکومتي دستګاه کې د هڅو پیل، چې سیستمونه الکترونیکي شي تر څو خپل ملت ته په وخت او شفاف ډول سره خدمات وړاندې شي او دې ته ورته نورې ستري پروژې پیل شوې او پخوانیو ناتمامو پروژو د بشپړولو لپاره هلې‌ځلې دوام لري.

د یوه هېواد د اقتصادي ثبات لپاره مهم شی امنیت او په حاکم حکومت کې د اقتصادي پرمختګ لپاره د کلکې ارادې شتون دی، چې الحمدالله ا.ا.ا په راتګ سره په ټول هېواد کې بشپړ امن قایم شوی او په شته نظام کې د اقتصادي پېشرفت لپاره قوي هوډ شتون لري، چې د یو کال په تېرېدو سره د اقتصادي پرمختګ لپاره هغه کارونه تر سره شوي دي، چې مثال یې د تېرو څو کلونو په جریان کې نشته دی، چې برسېره مې یو څه کارونه د نمونې په ډول ذکر کړل، د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په خپلو ډېرى ویناوو کې ملت ته ډاډ ورکوي، چې په نېږدې راتلونکې کې به د هېواد اقتصادي وضعیت عادي د خلکو لپاره به د کار زمینه برابره او عواید به یې لوړ شي، ان‌شاءالله.



# نگاهی
# به دو دهه کم‌توجهی روی برق
# و چشم‌انداز جدید

سیف‌الدین احمدی

در نوشـته‌ای ذیل مشخصاً پیرامون وضعیت برق در دو دهه‌ای گذشـته در افغانسـتان، مجمـوع واردات بـرق از کشـورها و نیز پالیسـی وابسته‌سـازی افغانسـتان از نـگاه برق به کشـورهای همسـایه و چگونگی تولید برق دستگاه‌های حرارتی و دستگاه های برق آفتابی، دلایل عدم تأمین برق در دو دهه‌ای گذشته و اولویت کمیسـیون اقتصادی بخاطر تولید بـرق از منابع داخلی پرداخته شده است!







انرژی هنوز هم به عنوان مهم‌ترین محرک اقتصادی و کلید تعیینِ کیفیت زندگی دولت‌ها و ملت‌ها در جهان به شمار می رود. آن‌هایی که در کشورهای با سطح بلند و پیشرفت مادی زندگی می‌کنند تصور این را نمی‌توانند که زندگی بدون انرژی و برق بتواند تداوم یابد؛ زیرا از روشنی در خانه‌ها گرفته تا فعالیت دستگاه‌های صنعتی، تولیدی، مکاتب، پوهنتون‌ها، شفاخانه‌ها و نهادهای حکومتی همه به برق وابسته بوده و اکثریت وسایل مهم تنها با استفاده از برق کاربرد دارند. چنانچه وسایل ارتباطی و تکنالوژی پیشرفته‌ای امروزی بدون برق هیچ نوع اهمیت ندارد. به همین دلیل دسترسی به برقِ با کیفیت، دوم‌دار و ارزان به پدیده‌ای ارزشمند برای بشر تبدیل شده است که چشم‌پوشی از آن به سان چشم‌پوشی از روشنی آفتاب است. برعلاوه مطابق آمار رسمی مصرف انرژی طی سال‌های آینده رشد چشمگیری خواهد داشت، طوری که مصرف انرژی در جهان تا سال 2035 با 36 درصد رشد مواجه خواهد شد. عمده‌ترین دلیل آن مصرف جهانی انرژی به علت بالا رفتن تقاضا در کشورهای رو به توسعه و بزرگ نظیر کشورهای اروپا، چین، هند و سایر کشورهای دیگر می‌باشد. چنانچه کمیسیون انرژی اتحادیه اروپا میزان مصرف انرژی این اتحادیه را از 60 درصد در سال 2013 به 81 درصد در سال 2030 تخمین زده است.[1] آمار فوق زمانی مطرح شده است که پس از حمله‌ای روسیه به اوکراین و کاهش چشمگیر انرژی به دلیل این بحران و سرانجام تلاش برای دریافت جاگزین انرژی روسیه توسط اروپا نیاز به

این منبع مهم و حیاتی را چند برابر کرده است. افغانستان از جمله کشورهای است که سرشار از منابع طبیعی انرژی و تولید برق می‌باشد. این ظرفیت نه تنها برای تولید انرژی و برقِ مورد نیاز داخلی، بلکه در صورت توجه و سرمایه‌گذاری بالای این سکتور، افغانستان می‌تواند حتا برق اضافه‌تر از نیازش را به سایر کشورها صادر نماید. با شناخت و امکان‌سنجی واقعیت ظرفیت تولید برق، مدیریت سالم و سرمایه‌گذاری هدفمند روی این منبع مهم در آینده می‌توان شگوفایی اقتصادی را از این آدرس رقم زد.

**مطابق آمار رسمی مصرف انرژی طی سال‌های آینده رشد چشمگیری خواهد داشت، طوری که مصرف انرژی در جهان تا سال 2035 با 36 درصد رشد مواجه خواهد شد.**

# وضعیت برق
## در دو دهه‌ای گذشته در افغانستان

در دو دهــه‌ای گذشــته، از آغــاز اشــغال تا زمان ســقوط اداره قبلی باوجــود سرازیر شــدن میلیاردها دالر افغانســتان از جمله کشورهای به شــمار می‌رود که حدود 80 درصــد بــرق آن از طریــق واردات و متباقی حــدود 20 درصد برق دیگــر از منابع داخلی -آبی و حرارتی- تأمین می‌شــود. در حالی که افغانســتان از جمله کشــورهای است که سرشار از منابع طبیعی آب، آفتاب، باد و ذغال ســنگ جهت تولید بــرق و همچنان دارای منابــع زیــادی نفت و گاز می‌باشــد. اگر بــه دو دهه مصــارف بــالای پروژه‌های بــزرگ خرید برق تمرکز صــورت گیرد باوجود میلیاردهــا دالر مصرف در این عرصه در حال حــاضر حــدود 80 درصــد مــردم بــه بــرق دسترســی ندارنــد؛ آن‌هایــی کــه بــه برق دسترســی دارنــد بــرق آن‌هــا در طول یک شــبانه روز بــه شــکل مــداوم بــا قطــع و پرچــاوی مواجه اســت. اگــر واقعیتی این موضوع را عمیقاً مورد بررسی قرار دهیم می‌توان عوامل اصلی آن را دریابیم.

اداره قبلــی با دنبال کردن پالیســی تورید بــرق از کشــورهای همســایه بــر مبنــای اســتراتیژی کشــورهای خارجــی بــه ویــژه امریــکا در منطقــه عمــل می‌کــرد. چنانچه خریــد بــرق وارداتــی از 16 میلیــون دالر در ســال 2007 به 330 میلیون دالر در ســال 2019 افزایــش چشــمگیر را نشــان مــی دهــد. برعــلاوه در ســال 2019 جهت وارد کــردن بــرق از اوزبیکســتان اداره قبلــی قــرارداد 10 ســاله را بــا قیمت گــزاف عقد نمود که بــا تطبیق آن مصرف برق وارداتی 3 برابر از قبــل افزایش یافت که بار اصلی آن توســط مــردم فقیر حمل می‌شــد. در حالی کــه با سرازیــر شــدن میلیاردها دالر طی بیســت ســال گذشــته این پرســش مطرح اســت که چرا اداره قبلی هیچ‌گاه به اعــمار بنــد و دســتگاه‌های تولیــد بــرق و استفاده از منابع داخلی توجه نکرد؟



## ۱ پروژه برق وارداتی از اوزبیکستان به کابل

اداره‌ی قبلــی بــا تمویــل امریکا در ســال 2005م مطالعــات پروژه‌ی انتقــال برق از اوزبیکســتان بــه کابــل را زیــر نــام «حــل مشــکل بی‌برقــی در شــهر کابــل» طرح نمــود. هــدف ایــن پــروژه ظاهــراً فراهم ســازی برق برای شــهر کابل و شــهرهای مزار شریف، پلخمری و کندز عنوان گردید. سرانجــام بــا مــصرف مجموعــی 200 میلیون دالــر، لین انتقالی تحت ولتاژ 220 کیلوولــت و طول 442 کیلومتر در ســال 2011 بــه بهره‌بــرداری ســپرده شــد. بــا تکمیل شــدن این پروژه برای مردم طوری ذهنیت داده شد که این پروژه می‌تواند تا 15 و یا 20 سال آینده نیازمندی برق شهر کابل را برآورده ســازد. در حالی که پروژه‌ای فوق از یک ســو اولین اقــدام در رابطه به وابســته ســازی افغانســتان بــه بــرق کشــورهای بیرونی بود، و از ســوی دیگر -باوجود سرمایه‌گذاری هنگفت بالای آن- ایــن مقدار برق بــرای رفع نیازمندی شــهر کابــل کافی نبــود؛ زیرا انتخــاب ولتاژ 220 کیلــو ولت در فاصلــه‌ای 440 کیلومتر یک طرح کاملاً غیر مســلکی اســت که بدون پیش‌بینــی دقیــق بــرق مــورد نیــاز، روی دست گرفته شد.

چنانچــه از لحاظ تخنیکی نظر به تقاضا برای فاصله‌ای 440 کیلومتر معمولاً ولتاژ 500 کیلوولــت در نظــر گرفته می‌شــود. این مســأله از یــک طــرف ضایعــات را کم می سازد و از سوی دیگر در صورت بلند رفتن تقاضــا می‌توان مقــدار زیاد بــرق را از این طریق انتقال داد. در واقع انتخاب ظرفیت 220 کیلــو ولــت با طــول 440 کیلومتر به گونه‌ای غیر مســلکی و بدون نیازسنجی دقیق صورت گرفته است. از اینجا معلوم می‌شــود که اشــتباه در طرح و برنامه‌ای تصمیم‌گیرنــدگان اصلــی آن اســت کــه همانــا کشــورها و نهادهــای خارجی می باشند.



## ۲ مجموع واردات برق از کشورهای همسایه و پرداخت قرض‌های اداره قبلی

بر اساس آمار رسمی حدود 80 درصد از پروژه‌های زیربنایی وزارت آب و انرژی در اداره‌ی قبلی توسط کشورها و نهادهای خارجی تو ام با مداخله و نفوذ در این سکتور تمویل می‌گردید. در حال حاضر تمام این پروژه‌ها از منابع داخلی و یا به همکاری بخش خصوصی تمویل می گردد. در بیست سال گذشته باوجود صدها میلیون دالر مصارف در عرصه‌ی تولید برق، نه تنها این‌که هیچ گونه کاری در راستای خودکفایی صورت نگرفت، بلکه به دلیل فساد در اداره قبلی از درک پرداخت مصارف برق از کشورهای همسایه میلیون‌ها دالر قرضدار می‌باشد. چنانچه اداره قبلی 35 میلیون دالر از درک واردات برق از کشورهای تاجیکستان، ایران و اوزبیکستان قرضدار بود.

در این اواخر مسوولین شرکت برشنا در رابطه به پرداخت پول‌های برق وارداتی گفته‌اند: «بیش از 151 میلیون دالر قرض را به شرکت‌های داخلی و خارجی که به برشنا برق می‌فروشند پرداخته و نیز حدود 2 میلیارد افغانی قرض اداره قبلی را از بودجه داخلی پرداخته‌اند.» آن‌ها می افزایند این شرکت توانایی پرداخت تمام قرض‌هایش را دارد، اما به دلیل موجودیت مشکلات بانکی نتوانسته‌اند تمام پول برق وارداتی را به وقتش پرداخت کنند.[2]

برعلاوه امارت اسلامی در ماه‌های اخیر 4 قرارداد واردات برق را با کشورهای تاجیکستان، اوزبیکستان، ایران و ترکمنستان به امضاء رسانیده است.[3] افغانستان برای رفع نیازمندی سالانه از ایران، اوزبیکستان، ترکمنستان و تاجیکستان حدود هزار میگاوات برق خریداری می‌نماید که از این میان حدود 22 درصد از ایران، 4 درصد از تاجیکستان، 17 درصد از ترکمنستان و بیشترین سهم یعنی 57 درصد از اوزبیکستان می‌باشد.

## ۳ دستگاه برق حرارتی –جنراتورهای دیزلی- تره‌خیل در شهر کابل

اداره‌ی قبلی با کمک امریکا پروژه دستگاه حرارتی تره خیل را با ظرفیت 105 میگاوات برق در شرق کابل به هدف فراهم‌سازی برق دایمی پایتخت و نیز تأمین برق برای کمپ‌های نظامی روی دست گرفت، که این پروژه توسط شرکت‌های امریکایی «لویزبرجر» و «بلک ان‌ویچ» با مصرف 335 میلیون دالر تطبیق گردید. مصرف واقعی این پروژه حدود 100 میلیون دالر بود، اما سه‌ونیم برابر بیشتر از ارزش واقعی آن در این پروژه مصرف گردید. با افتتاح آن در سال 2007 قرار بود که این پروژه در سال 2009 تکمیل گردد، اما به دلیل عملکرد ضعیف کمپنی‌های قراردادی در سال 2015 به بهره‌برداری سپرده شد. جالب این است که قیمت فی کیلووات ساعت از این پروژه به مردم شهر کابل بین 19 الی 20 افغانی تمام می‌شد، در حالی که قیمت فی کیلووات ساعت برق آبی، حدود 1.5 افغانی و قیمت فی کیلووات ساعت برق وارداتی 6 افغانی تمام می شد. برعلاوه جهت فعال نمودن دستگاه حرارتی فوق که ظرفیت تولید در یک شبانه روز 1.95 میگاوات را دارا است، به مقدار 486 هزار لیتر تیل ضرورت است. به این معنا که جنراتورهای فوق برای فعالیت عادی خویش در یک شبانه روز به ارزش 583 هزار دالر تیل دیزل سوخت نیاز دارد. این مصارف علاوه بر مصارف 1.5 میلیون دالر سالانه جهت حفظ و مراقبت آن می باشد. به همین دلیل اداره‌ی قبلی توانایی استفاده از جنراتورهای فوق را نداشت و تنها در زمستان و در صورت نیاز جدی از آن استفاده می‌نمود. این از نظر ظرفیت بهره‌برداری آن بود، اما از نظر سهم؛ پروژه فوق در فراهم‌سازی برق به شهر کابل با در نظر داشت مصارف آن صفر بود. حتا به دلیل این‌که برای مدت طولانی از جنراتورهای مذکور استفاده صورت نگرفت برخی از پرزه‌جات و تجهیزات آن از کار افتاده که مصارف حفظ و مراقبت آن را چند برابر می‌سازد. در واقع مردم شهر کابل به عنوان پایتخت نشینان باوجود مصارف بیش از 550 میلیون دالر در بی‌برقی به سر می‌برند.

## ۴ دستگاه برق آفتابی ولایت کندهار




انرژی آفتابی پس از انرژی آبی و بادی سومین منبع ارزان و آسان انرژی پاک به شمار می‌رود که در افغانستان تا کنون از این منبع استفاده ای آنچنانی صورت نگرفته است. افغانستان با داشتن 300 روز آفتابی در سال از ظرفیت زیاد برای تولید برق برخوردار می‌باشد. در سال 2010م دولت افغانستان با کمک امریکا برای تولید حدود 10 میگاوات برق در ولایت کندهار 350 میلیون دالر را اختصاص داد که بیشترین آن برای تولید برق از طریق جنراتورهای دیزلی به مصرف رسید.

در سال 2018م کار ساخت فاز اول پروژه تولید برق آفتابی در ولایت کندهار پس از چندین سال توقف دوباره آغاز شد. این دستگاه با مشارکت دولت و سکتور خصوصی در ساحه حدود هزار جریب زمین ساخته شد. مصرف ساخت آن 39 میلیون دالر می‌باشد که در کل ظرفیت 30 میگاوات برق داشت. مطابق قرارداد پس از گذشت 20 سال دستگاه فوق به دولت افغانستان واگذار می‌شود. ولایت کندهار در کل حدود 150 میگاوات برق نیاز دارد که در بیست سال گذشته باوجود صدها میلیون دالر مصارف جهت تولید برق هیچ گونه کار مهمی در راستای رفع این مشکل انجام نشده است. به همین دلیل با افتتاح فاز دوم بند کجکی یک بخش مهمی از نیاز برق این ولایت رفع خواهد شد.

باید خاطر نشان کرد که مصرف تولید برق به ویژه توسط دستگاه‌های حرارتی و جنراتورهای دیزلی برای مردم و حتا دولت گزاف و کمرشکن تمام می‌شود، و از سوی هم مصارف در این پروژه‌ها در کنار این‌که بنیادی نمی‌باشد، بل زودگذر و پر هزینه است. چنانچه فی کیلووات برق تولید شده از این دستگاه ها بیشتر از 20 افغانی تمام می‌شود، –این آمار از زمانی است که قیمت نفت به پیمانه‌ای کنونی یعنی زمان نوشتن این مقاله، افزایش نیافته است- در حالی که قیمت بین‌المللی این‌گونه برق فی کیلووات حدود 4 افغانی می باشد. این در حالیست که صدها میلیون دالر برای ساخت دستگاه‌های حرارتی به مصرف رسیده و اما افغانستان بیشترین برق را از کشورهای همسایه وارد می‌نماید. در کل می‌توان گفت که اداره قبلی به دلیل نداشتن استقلالیت سیاسی و اقتصادی هیچ گونه ابتکارِ عمل را جهت رفع نیازمندی برق مورد نیاز مردم روی دست نداشت، بلکه مطابق پالیسی کشورها و نهادهای تمویل کننده که در واقع پالیسی آن‌ها وابسته سازی افغانستان به برق کشورهای خارجی بود، عمل می‌کرد.



# دلایل عدم تأمین برق

## در دو دهه‌ای گذشته در افغانستان

از آغاز اشغال تا پایان آن در سال 2021 م، حدود 60 میلیارد دالر در عرصه‌ای انکشاف و بازسازی افغانستان مصرف شده است که از آن جمله تنها 4 میلیارد دالر در سکتور انرژی و برق‌رسانی به مصرف رسیده است. این در حالی است که امریکا پس از جنگ جهانی دوم حدود 12 میلیارد دالر زیر عنوان پلان مارشال برای بازسازی اروپا کمک و مصرف کرد که بر اساس ارزش کنونی آن حدود 120 میلیارد دالر سنجش می شود. با این مقدار پول اروپا به مراتب سریع‌تر نسبت به افغانستان بازسازی و آباد شد. دلیل عمده‌ای آن را می‌توان در نبود اراده‌ی سیاسی و اقتصادی مستقل از سوی سردم‌داران اداره‌های قبلی کابل عنوان کرد.

دلیل دیگر آن طوری است که امریکا به ویژه 4 میلیارد دالر پول در عرصه‌ای برق رسانی را توسط نهادهای ظاهراً تمویل‌کننده و با استخدام کارشناسان و مشاورین خارجی به مصرف رسانید که اکثر این پول‌ها زیر نام مصارف پروژه دوباره به خارج انتقال داده شد. به همین دلیل دست‌اندرکاران حکومت همراه با مشاورین خارجی پروژه‌ها و برنامه‌های خیالی را ظاهراً برای مردم روی دست می‌گرفتند، و اما در میدان عمل چیزی قابل ملاحظه‌ای دیده نمی شد، بلکه اکثر این پول‌ها به منافع شخصی افراد حیف و میل و یا به خارج انتقال داده می‌شد. برخی‌ها با تکیه به این دیدگاه همواره شعار سر می‌دادند که با کمک‌های اقتصادی و تخصص گرایی می‌توان مشکل حکومت‌داری به ویژه پیشبرد برنامه‌های کلان اقتصادی را حل کرد، در حالی که بزرگ ترین مشکل بخصوص در قسمت فساد همین متخصصان بودند که با مصارف میلیاردها دالر نتوانستند تنها مشکل در عرصه‌ای برق‌رسانی را حل سازند.

به عنوان مثال در استراتیژی انکشاف ملی افغانستان که نخست در سال 2005م ترتیب شد و در پلان ملی زیربنا که در سال 2016 ساخته شد و نیز در چارچوب استراتیژی انکشاف ملی افغانستان که در سال 2017 ترتیب گردید، در هر یکی از آن‌ها طی اهداف مهم آمده است: در اخیر سال 2010م در ساحات شهری؛ در حدود 65 درصد منازل رهایشی و 90 درصد ساحات غیر رهایشی به برق دسترسی خواهند داشت.[4] این هدف تا 16 سال بعد یعنی تا سرنگونی اداره‌ی قبلی هم تحقق نپذیرفت. در واقع پالیسی کشورها و نهادهای کمک‌کننده این بود تا افغانستان به خودکفایی در عرصه‌ای انرژی و برق دست نیابد. برعلاوه فعالیت نهادهای تمویل کننده در عین سکتور بحران دیگری را رقم زده بود؛ چنانچه فعالیت 25 نهاد تمویل کننده تنها در عرصه‌ای انرژی و برق رسانی سبب شده بود که در تشخیص نیازمندی‌ها سردرگمی بوجود آید.

### اولویت معاونیت اقتصادی ریاست الوزراء به رهبری الحاج ملا عبدالغنی برادر آخند

## بخاطر تولید برق از منابع داخلی

پس از روی کار آمدن امارت اسلامی هرچند در مدت محدود تلاش‌ها و اقدامات زیادی در راستای توجه به زیرساخت‌های اقتصادی صورت گرفت؛ از افتتاح کانال قوش‌تیپه و آغاز کار عملی آن که تاکنون به شدت جریان دارد گرفته تا افتتاح بلاک نفت قشقری. همچنان افتتاح پارک صنعتی شهرک پیروزی که در آن به ارزش 216 میلیون دالر سرمایه‌گذاری و افتتاح بزرگ‌ترین شرکت محدودالمسوولیت «افغان انویست» با سرمایه گذاری 250 میلیون دالر[6] که هدف عمده آن تولید برق از منابع داخلی ذغال سنگ می‌باشد. همچنان افتتاح فاز دوم بند برق کجکی که ظرفیت تولید 151 میگاوات برق را دارا می‌باشد. بند کجکی قبلاً ظرفیت تولید 51 میگاوات برق را داشت که با افتتاح فاز دوم آن که ظرفیت 100 میگاوات را دارد میزان تولید آن افزایش یافته است. یکی از



اولویت‌های کمیسیون اقتصادی توجه به زیرساخت‌ها از جمله تولید برق از منابع داخلی می‌باشد. چنانچه کمیسیون اقتصادی به ریاست الحاج ملا عبدالغنی برادر آخند به تاریخ 22 ثور 1401هـ.ش پس از بحث و گفتگوی مفصل کمیسیونی را به ریاست وزارت انرژی و آب؛ وزارت معادن و پترولیم، وزارت صنعت و تجارت، اتاق صنایع و معادن و همچنین اتاق تجارت و سرمایه گذاری مؤظف کرد تا در قسمت تولید انرژی از ذغال سنگ در پارک‌های صنعتی، شهرهای بزرگ و این گونه ساحات با توجه به حجم ذغال سنگ و نیاز به انرژی اولویت داده و عملاً کار در این زمینه را آغاز نمایند.[7] برق مورد نیاز سالانه‌ای افغانستان در مجموع حدود 1500 میگاوات برق می‌باشد. اما اداره‌ی قبلی در طول بیست سال گذشته باوجود مصرف چهار میلیاردها دالر مصرف در این عرصه نتوانست تا این نیاز را از منابع داخلی تأمین کند. این در حالیست که برای فراهم ساختن برق مورد نیاز افغانستان می‌توان از منابع داخلی استفاده کرد تا نه تنها برق مورد نیاز داخلی برآورده خواهد شد، بلکه بیشتر از آن به خارج صادر خواهد کرد. برای رسیدن به این هدف منابع و راه های زیادی وجود دارد. بر اساس سروی و مطالعات جیولوجیکی انجام شده در افغانستان دو حوزه‌ی معدنی بزرگ ذغال سنگ وجود دارد:

۱) حوزه‌ی ذغال‌دار شمال شرق - جنوب غرب که به شکل کمربند از بدخشان شروع تا تخار، کندز، بغلان، سمنگان، بلخ، سرپل، بامیان، دایکندی، جوزجان، بادغیس و هرات امتداد یافته است.

۲) حوزه‌ی ذغال‌دار شرق - جنوب شرق که شامل ولایات ننگرهار، لوگر، پکتیا، پکتیکا و جناح شرقی کابل می‌شود.

در مجموع بیشتر از 80 ظواهر معدنی ذغال سنگ در افغانستان وجود دارد که از جمله 17 ساحه آن با ذخایر 850 میلیون تُن ذغال سنگ می‌باشد که ارزش تخمینی آن حدود 50 میلیارد دالر است. بر اساس آمار رسمی افغانستان سالانه حدود 1500 میگاوات برق نیازد دارد. از این میان در حال حاضر 23 درصد از منابع داخلی و متباقی از منابع خارجی تأمین می‌شود. با استفاده از منابع داخلی ذغال سنگ می‌توان حدود 3500 میگاوات برق، حتا بیشتر از نیاز داخلی را تولید کرد. د افغانستان برشنا شرکت برق مورد نیاز را حدود 50 الی 250 دالر میگاوات ساعت از خارج و یا از دستگاه‌های تولید داخلی برق خریداری می‌کند، در حالی که با تولید برق از منابع داخلی، قیمت فی میگاوات ساعت 35 الی 45 دالر تمام می‌شود.[8]
در این میان اگر قرار باشد که تنها برای شهر کابل به عنوان پایتخت و یا بزرگ‌ترین شهر صنعتی در افغانستان که بیشترین نفوس و یا بیشترین استفاده کننده‌ای برق می‌باشد، برق مورد نیاز آن فراهم شود تنها اعمار بند باغدره و بند برق دوم در سروبی می‌تواند 390 میگاوات برق پاک، کم مصرف و بدون مصارف گمرکی و مالیاتی اضافی را فراهم سازد. برعلاوه افغانستان سالانه حدود 110 میلیون دالر از این بابت به‌دست می‌آورد که می‌تواند صرفِ مصرف اعمار دو بند متذکره نماید. باوجود این‌که مطالعات ابتدایی امکان‌سنجی و حتی برآوردهای مالی و تخنیکی آن سال‌ها قبل صورت گرفته، اما اداره‌ی قبلی قادر به استفاده ی مؤثر و پایدار از این منابع به نفع مردم نشد که در این اواخر شرکت برشنا این دو پروژه را شامل برنامه‌های مهم خود ساخته است.[9]



## نتیجه‌گیری

در دو دهـه‌ای گذشـته باوجـود سرازیـر شـدن میلیاردهـا دالـر پول افغانسـتان هنوز هم از جمله کشـورهای محسوب می‌شود که بیشتر از 80 درصد مردم آن بـه بـرق دسترسـی ندارنـد. همچنـان درصـدی کمـی از مـردم کـه بـه بـرق دسترسـی دارنـد از بـرق بی‌کیفیـت برخوردار می‌باشند که در طول یک شبانه روز به شکل مداوم با قطع برق روبرو می شـوند. دلیل عمـده‌ای آن عدم داشـتن اسـتقلال سیاسـی و اقتصـادی و خطرناکتـر از ایـن پالیسـی وابسـته نگهداشتن افغانستان به برقِ کشورهای خارجی در اداره قبلی بود. یکی از تغییرات مهمی که پس از پیروزی امارت اسلامی در افغانسـتان بوجـود آمده قطـع کردن دسـت‌های خارجـی در نهادهـای مهـم اقتصادی می‌باشد. با مساعد شدن این شرایط می‌توان از منابع سرشـار داخلی همچـون آب، بـاد، آفتـاب و ذغال سـنگ استفاده و برق مورد نیاز را تولید کرد. این رویکـرد در واقـع چشـم‌اندازی تقویت و توجه در سـکتور تولید انـرژی و برق می باشـد کـه سرانجـام حالـت واردات را بـه صادرات و یا حداقل تولید برق مورد نیاز از منابع داخلی را فراهم خواهد کرد. در کنار ایـن حکومت تلاش می‌کند تا از کدرهای موجود داخلی و نیز کسانی که در خارج از کشور تحصیل و یا زندگی می‌کنند جهت رفاه اقتصادی حمایت و بهره ببرد.






**منابع:**

1.تحقیقی پیرامون رشد نیاز جهان به انرژی:
https://www.gahr.ir/article_142952_4d94d3bb390e71382957729f3a55b3b5.pdf

2. گزارش طلوع نیوز از نشست حساب‌دهی مسوولان شرکت برشنا به مردم:
https://tolonews.com/index.php/fa/business-179244

3. گزارش رادیو آزادی امضای چهار قرارداد برق با کشورهای همسایه:
https://da.azadiradio.com/a/31635568.html

4. استراتیژی انکشاف ملی افغانستان سال 1391:
https://moj.gov.af/sites/default/files/afghanmainstrategydari_0.pdf

5. گزارش رسمی وزارت مالیه:
https://bit.ly/3QeikCD

6. گزارش رسمی دفتر مطبوعاتی معاونیت اقتصادی ریاست‌الوزراء:
https://twitter.com/FDPM_AFG/status/1534830858925916161?s=20&t=08wTLZrZuPXGsZZAY-PEcw

7. همان منبع:
https://twitter.com/FDPM_AFG/status/1524981831078187025?s=20&t=08wTLZrZuPXGsZZAY-PEcw

8. طرح استفاده از ذغال سنگ برای تولید برق، توسط وزارت معادن و پترولیم.

9. گزارش رسمی از صفحه تویتر مرکز رسانه‌های حکومت:
https://twitter.com/GMICafghanistan/status/1557274756885397505?s=20&t=szoJdQmKX37-t_7yQnooSw

# بیا نوې کېدونکې انرژي

## او په افغانستان کې یې شته سرچینې او ظرفیتونه

عزت الله بدلون

په دې مقاله کې پر بیا نوې کېدونکې انرژۍ او په افغانستان کې یې پر شته سرچینو او ظرفیتونو بحث شوی. د مقالې محتوا پر دغو موضوعاتو راڅرخي: د انرژۍ لنډه تشریح، ډولونه یې، د انرژۍ د سرچینو ډولونه (نوې کېدونکې او نه نوې کېدونکي انرژي)، په افغانستان کې د انرژۍ د تولید لنډه تاریخچه او د نوې کېدونکې انرژۍ شته سرچینې او د هغو ظرفیتونه.



## سریزه

پخوا انرژۍ ته د انسانانو اړتیا ډېره کمه او ابتدايي وه؛ د ځان ګرمولو لپاره يې د لمر له وړانګو ګټه اخیسته. کله چې اور کشف شو؛ انسانانو د لرګیو، د ژوو د وچو شویو فاضلاتو او ... په سېزلو خپل استوګنځي ګرمول او خواړه يې پرې پخول. په لمر به يې خوراکي توکي وچول. د باد په انرژۍ به يې اوبه لګولې، په کښتیو کې بېلابېلو برخو ته تلل او ژرندې به يې کولې. د وخت په تېرېدو انرژۍ ته اړتیا زیاتېده؛ ډېر کلونه وروسته چې د اتلسمې پېړۍ په لومړیو کې چې جېمز واټ د بخار لومړنی ماشین نړیوالو ته ور وپېژانده؛ نړۍ ته يې د پرمختګونو لار پرانیسته. د بخار دغه ماشین د ډېرو سکرو په سوځولو او کم لګښت ډېره انرژي تولیدوله. په 1880ز کال کې دا ماشین د برېښنا له جنراتور سره وصل شو او په نړۍ کې لومړی ځل، توماس اېډیسون برېښنا تولید کړه. وروسته نفت، بنزین، د انرژۍ نورې سرچینې او دغه راز د انرژۍ بېلابېل ډولونه وپېژندل شول چې نن يې په نړۍ کې وینو. نن ورځ په هره برخه کې له انرژۍ سره د انسانانو ژوند ډېر زیات تړلی؛ دا تړاو په ځانګړي ډول تر صنعتي انقلاب وروسته زیات شو. د اوبو، تېلو، ګازو او د ډېرو سکرو له سرچینو څخه نیولې د انرژۍ تر بادي او لمري سرچینو؛ افغانستان د نوې کېدونکې او نه نوې کېدونکې انرژۍ پرېمانه سرچینې لري چې له اکثرو يې لا هېڅ ګټه نه ده اخیستل شوې. افغانستان له لمریزې انرژۍ څخه د 223 زره مېګاواټه، له اوبو څخه څه باندې 23 زره مېګاواټه، او له باد څخه د 68 زره مېګاواټه برېښنا د تولید ظرفیت لري. همدا راز په هېواد کې د ګازو د 77 میلیارده مکعبه زېرمو اټکل شوی چې له ډلې يې یوازې د شبرغان د ګازو زېرمې 600 مېګاواټه برېښنا تولیدولی شي. سره له دې هم، له بده مرغه افغانستان په وارداتي انرژۍ چلېږي او د هېواد دننه د برېښنا تولید ډېر کم دی. افغانستان له دومره پرېمانه زېرمو سره سره ان خپله د اړتیا وړ برېښنا له ګاونډیو هېوادونو واردوي او لا هم د افغانستان یوازې 43 سلنه خلک برېښنا ته لاسرسی لري. که افغانستان له خپلو سرچینو ګټه واخلي؛ هم به په کور د ننه د انرژۍ ټولې اړتیاوې پوره کړي او هم به د انرژۍ یو لوی صادروونکی هېواد وي. د جنوبي اسیا هېوادونه د انرژۍ لوی مصرفوونکي دي، که افغانستان په دغه برخه کې پر ځان بسیا شي، دغه هېوادونه به د مرکزي اسیا پر ځای له افغانستان څخه خپله د انرژۍ اړتیا پوره کوي.





## انرژي

انـرژي د کار کولو وړتيا ته وايي. موږ که پر لار ځـو، کـه خـواړه خورو/پخـوو، کـه پـه موټر/الوتکه/کښـتۍ يـا بله وسـيله کې سـفر کوو؛ که کور رڼا کوو، په صنعت کې ماشـينونه کاروو، او کـه بـل هـر کار کوو انـرژۍ ته اړتيا لرو. د ژوند دا چارې له انرژۍ پرته پر مخ نه ځي. د انرژۍ اړتيا او ارزښـت ته په کتـو د نړۍ هېوادونه هڅه کوي چې د انـرژۍ د توليد او زېرمې په برخه کې ډېر کار وکـړي؛ اوس د نړيوالو پـام په ځانګړي ډول بيـا نوې کېدونکې انـرژۍ ته دی چې هـم پرېمانه ده، هم يې لګښـت کم دی او هم خلاصېږي نـه. د نړۍ ډېر هېوادونه پـه دې برخه کې پر ځان بسـيا دي او نورې نړۍ ته انرژي صادروي. افغانستان سره له دې چـې د نـوې کېدونکـې او نـه نـوې کېدونکـې انـرژۍ پرېمانـه سرچينې لري؛ خـو بيا هم ډېـر کم توليد کـوي او خپله د اړتيا وړ انرژي له بهره واردوي.

## د انرژۍ ډولونه



انـرژي بېلابېل ډولونه لري چې دلتـه يې د ځينو يـوازې نـوم اخلـو؛ ميخانيکـي انـرژي، حـرارتي انرژي، هسـتوي انرژي، کيميـاوي انرژي، الکترو مقناطيـسي انـرژي، غږيـزه انـرژي، د ځمکې د جاذبـې انـرژي، حرکـي انـرژي، پټانشـيل انرژي، يونايزشـن انرژي او داسـې نور. په دغـو انرژيو کې ځينې ښې دي او ځينې طبعيت او بشر ته زيان رسـوي، هوا ککړوي او انسانان له ستونزو سره مـخ کوي. که څه هم نړۍ هڅه کوي چې له داسـې انرژۍ ګټه واخلي چې هم خپله د انرژۍ اړتيـا پـوره کـړي او هـم انسـانانو او طبعيت ته زيان ونه رسوي، خو بيا هم په نړۍ کې د مضرې انـرژۍ کارول ډېـر دي او ډېـرې سـتونزې يې را ولاړې کړې دي.

## د انرژۍ د سرچينو ډولونه

انـرژي دوه ډولـه سرچينـې لـري؛ نـوې کېدونکـې او نه نوې کېدونکـې. د انرژۍ نـوې کېدونکـې سرچينـې هغـه دي چې پـای تـه نه رسـېږي او نـه نـوې کېدونکې انرژي بيا يو ټاکلی ظرفيت لري، هغه چې پای ته ورسېد بيا نه نوې کېږي. د انرژۍ په نـه نـوې کېدونکـو سرچينـو کـې نفـت، طبيعـي ګاز، ډبـرو سـکاره، يورانيـم او داسـې نور شـامليږي چې له يوې ټاکلې مودې کارولو وروسـته پای ته رسـېږي. د انـرژۍ په نـوې کېدونکو سرچينـو کې بيا لمريزه انـرژي، بادي انرژي، د اوبو انرژي، د ځمکې له تودوخې څخه ترلاسه کېدونکې انـرژي، بيو انـرژي (Bioenergy)، د اوبو د څپو انـرژي، د اقيانوس انرژي، د جذر و مد انـرژي، د هايدروجن انرژي او داسـې نور. دا سرچينـې پـه طبعيـت کې شـته او نه ختمېدونکې دي.

## په افغانستان کې
# د انرژۍ د تولید شالید

که څه هم په لومړنیو وختونو کې د افغانستان خلکو له تېلو او ډېرو سکرو څخه د انرژۍ په توګه ګټه اخیسته خو د 19 مې پېړۍ په پای کې امیر عبدالرحمان خان له برېښنا څخه د ګټې اخیستنې لپاره ځینې اقدامات وکړل او یو داسې ډاینمو (د برېښنا جنراتور) یې جوړ کړی و، چې څلوېښت څراغونه یې روښانه کول. دا ډاینمو شاوخوا 130 کاله مخکې د ښاغلي براون په نامه یوه بهرني بسته بندي کړی و. دا وخت په ډېرو هېوادونو کې دا فکر لا نه و. وروسته د امیر حبیب الله خان په دوره کې له بټریو برېښنا ترلاسه کېده او ارګ به یې روښانه کاوه. په همدغه دوره کې په جبل السراج کې د اوبو د برېښنا په فابریکه کار پیل شو؛ خو بیا د امیر امان الله خان د واکمنۍ پرمهال له دغې فابریکې څخه ګټه واخیستل شوه. وروسته بیا د برېښنا د توزیع په موخه د «تنویراتو شرکت» بنسټ کېښودل شو، چې تر 1307 کال پورې یې په کابل ښار کې 18000 څراغه برېښنا په کورونو وېشلې وه. له دویمې نړیوالې جګړې وروسته د شورويانو تر یرغل پورې بیا په افغانستان کې د بېلابېلو هېوادونو په مرسته د کجکي، ماهیپر، نغلو، درونټې، ګرېشک، دهله، چک وردک، سلما او نور برېښنايي بندونه جوړ شول. خو د شورويانو یرغل او وروسته بیا د افغانستان کورنۍ جګړې تر ډېره دغو بندونو ته په پراخه کچه تاوانونه ورسول. تر 2001 کال وروسته باید دا بندونه رغول شوي وی؛ ځکه داسې احصائې شته چې یوازې د برېښنا د تولید په برخه کې 4 میلیارده ډالر فساد شوی.



## په افغانستان کې د بیا نوي کېدونکې انرژۍ شته سرچینې او ظرفیتونه

نوي کېدونکې انرژي په نړۍ کې د یوې داسې انرژۍ په توګه پېژندل کېږي چې هوا لږ ککړوي یا یې هېڅ نه ککړوي. دا انرژي له داسې سرچینو تولیدېږي، چې بیا نوي کېدی شي او نه ختمېږي. په افغانستان کې د نوي کېدونکې انرژۍ عمده ډولونه د اوبو، لمر، باد او بایومس انرژۍ دي.

افغانستان په سیمه کې د هغو هېوادونو له ډلې دی چې د نوي کېدونکې انرژۍ د تولید لوړ ظرفیت لري خو تر اوسه له بده مرغه له دغو سرچینو څخه 5 سلنه ګټه هم نه ده اخیستل شوې. له دغو ټولو سرچینو سره سره افغانستان لا هم د ګاونډیو هېوادونو پر وارداتي انرژۍ چلېږي. افغانستان خپل د اړتیا وړ شاوخوا 80 سلنه برېښنا له تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان او ایران څخه واردوي. دا په داسې حال کې ده چې د افغانستان د اوبو، باد، لمر او بایومس انرژۍ سرچینې دومره انرژي تولیدولی شي چې نه یوازې دا چې د ټول افغانستان ستونزه حل کوي، بلکې افغانستان د دې جوګه کوي چې بهرنیو هېوادونو او په ځانګړي ډول جنوبي اسیا ته چې سخته اړتیا ورته لري، انرژي صادره کړي.

په افغانستان کې د نوي کېدونکې یا پاکې انرژۍ د تولید عمده سرچینې دا دي:



## د اوبو انرژۍ سرچینې

د افغان دولت او GIZ موسسې له لوري شوې سروې کې د افغانستان د اوبو حوزې په پينځو لويو حوزو وېشل شوې. د دغې سروې له مخې دغه حوزې د برېښنا د توليد ظرفيت 23310 ميګاواټه اټکل شوی. دغه حوزې لاندې تشريح کوو:

### ① د کابل د اوبو حوزه

د کابل د اوبو حوزه څلور فرعي حوزې لري؛ کابل سيند، پنجشير سيند، لغمان سيند او کنړ سيند. دا حوزه ټولټال د 1941 ميګاواټه برېښنا د توليد ظرفيت لري. په دې کې د کنړ سيند له 1090 ميګاواټه توليد سره تر ټولو لوړ او لغمان سيند له 44 ميګاواټه برېښنا توليد سره تر ټولو ټيټ ظرفيت لري.

### ② پنج-آمو د اوبو حوزه

پنج-آمو د افغانستان د اوبو يوه ډېره مهمه حوزه ده چې د 20137 ميګاواټه برېښنا د توليد ظرفيت لري. دا حوزه څلور فرعي حوزې لري؛ پنج، آمو، کوکچه او کندوز. د پنج فرعي حوزې ظرفيت 9050 ميګاواټه، د آمو فرعي حوزې ظرفيت 9110 ميګاواټه، د کوکچې ظرفيت 1927 ميګاواټه او د کندوز فرعي حوزې ظرفيت 50 ميګاواټه دی. له دغو فرعي حوزو څخه درې يې په بدخشان او يوه برخه په کندوز او تخار کې ده.

### ③ د شمال د اوبو حوزه

د جوزجان او بلخ د اوبو حوزه چې په بلخ او جوزجان ولايتونو کې ده، ټولټال د 760 ميګاواټه برېښنا د توليد ظرفيت لري.

### ④ هريرود-مرغاب د اوبو حوزه

د اوبو دا حوزه د هېواد په لوېديځ کې ده او د مرغاب او هريرود له دوو فرعي حوزو څخه جوړېږي. د دغې حوزې ظرفيت 202 ميګاواټه دی.

### ④ هلمند د اوبو حوزه

په دې حوزه کې د هلمند او فراه فرعي حوزې شاملېږي. د دغې حوزې د برېښنا د توليد ظرفيت 270 ميګاواټه دی.

**د افغانستان د اوبو انرژۍ د توليد د ظرفيت جدول**

| حوزه | سيند | د برېښنا د توليد ظرفيت په ميګاواټ |
|---|---|---|
| کابل | کابل | 408 |
| | پنجشير | 400 |
| | لغمان | 44 |
| | کنړ | 1089 |
| پنج/آمو | پنج | 9050 |
| | آمو | 9110 |
| | کوکچې | 1927 |
| | کندز | 50 |
| شمال | جوزجان | 460 |
| | بلخ | 300 |
| هريرود/مرغاب | هريرود | 102 |
| | مرغاب | 100 |
| هلمند | هلمند | 190 |
| | فراه‌رود | 80 |
| ټولټال | | 23310 |

## بادي انرژي



د افغانستان طبیعت ته په کتو، دا هېواد د لسګونه زره میګاواټه بادي برېښنا د تولید ظرفیت لري. په افغانستان کې د بادي انرژۍ د تولید لومړۍ دستګاه په 2008 کې په پنجشیر کې جوړه شوه؛ دا دستګاه دوه بادي توربینونه لري او په ساعت کې 100 کیلو واټه برېښنا تولیدولی شي او د پنجشیر ولایت مقام اړتیا پوره کوي. د بادي انرژۍ په تولید کې فراه له 61353 میګاواټه تولیدي ظرفیت سره لومړی، هرات له 36497 میګاواټ سره دویم، نیمروز په 21450 میګاواټه تولیدي ظرفیت درېیم، تخار په 4795 میګاواټه تولیدي ظرفیت څلورم او بدخشان په 3314 میګاواټه تولیدي ظرفیت سره پینځم مقام لري. په نړۍ کې د اوبو له انرژۍ وروسته بادي انرژي د پاکو او ارزانه سرچینو په منځ کې دویم ځای لري. دا انرژي زموږ په هېواد کې لا ناپېژانده پاتې ده او د خدای له دغه نعمت څخه لکه څنګه چې باید وي، ګټه نه ده اخیستل شوې. بادي انرژي د کوچنیو، متوسطو او لویو توربینونو په نصبولو سره لاس ته راځي او په مستقیمه توګه یا له ذخیرې وروسته د کورنیو لخوا یا په صنعت کې ګټه ترې اخیستل کېږي.

## لمریزه انرژي

افغانستان په کال کې 300 ورځې لمر لري چې له دې سره یې له لمر څخه د برېښنا د تولید ظرفیت خورا زیات دی. په افغانستان کې د لمر د وړانګو شدت په 24 ساعتو کې په یوه متر مربع کې 165 واټه دی. د ترسره شوو څېړنو او سروې ګانو له مخې د لمریزې انرژۍ په تولید کې هلمند، کندهار، هرات، فراه او نیمروز په ترتیب له لومړي تر پنځمه مقامونه لري. لمریزه انرژي په نړۍ کې له بادي او اوبو انرژۍ وروسته درېیمه پاکه او ارزانه سرچینه ده چې په افغانستان کې لا سمه ګټه نه ده ترې اخیستل شوې.



## بایوګاز/بایومس انرژي

بایوګاز د اکسیجن په نشتون کې د مایکرو ارګانیزمونو او باکتریاوو له سېزلو لاسته راځي؛ دا په اوس وخت کې د انرژۍ یوه نوې کېدونکې سرچینه ګڼل کېږي. د بایو ګاز د لاسته راوړلو یوه لار د کرنیز کوچ، فاضلابو، کثافاتو، د باغونو او پارکونو اضافه موادو، نباتي توکو او کرنیزو محصولاتو غونډې تجزیه کېدونکو توکو تخمیر دی. دا ګاز په ټوله کې له میتان او کاربن ډای اکسایډ څخه جوړېږي او ممکن د هایدروجن سلفایډ، د اوبو د بخار او د سلیکان د اکسایډ یو څه مقادیر پکې وي. د دغه ګاز تشکیلوونکي اجزا 62 تر 70 سلنه میتان ګاز او له 30 تر 35 سلنه کاربن ډای اکسایډ دی. دا په افغانستان کې د انرژۍ د تولید نوی ظرفیت دی چې له وچو کثافاتو، اضافي ښاري توکو، د ژوو فاضله موادو، ورستو نباتاتو، زراعتي محصولاتو او نورو څخه په ساعت کې شاوخوا 4400 میګاواټه برېښنا تولید کړي. د کابل، هرات، مزار شریف او کندهار په شان لویو ښارونو کې په ورځ کې له 150 ټنو زیاتو موادو څخه د تولید ظرفیت شته او نورو ښارونو او سیمو کې دا ظرفیت توپیر کوي.






## د انرژۍ په برخه کې د افغانستان ستونزې

○ **د سينکرونايزيشن (Synchronization) او د برېښنا د متحدې شبکې نشتون:** په افغانستان کې لا تر اوسه د برېښنا متحده شبکه نه ده رامنځته شوې. افغانستان که له نورو هېوادونو سره د برېښنا په برخه کې لويې پروژې پر مخ بيايي، نو تر هر څه د مخه د دغې ستونزې (سينکرونايزشن) حل اړين دی. سينکرونايزيشن دې ته وايي، چې د برېښنا د بېلابېلو فريکونسيو او ولتاژونو لرونکي سيستمونه موازي کار وکړي؛ خو د افغانستان د ګاونډيو د برېښنا سيستمونه له يو بل سره موازي نه دي او تر ټولو مهمه دا چې دوی بل چاته هم اجازه نه ورکوي چې د دوی د برېښنا سيستمونه له يو بل سره په افغانستان کې موازي کړي.

○ **زياتېدونکې تقاضا:** که د افغانستان د برېښنا شرکت 12 کلنو شمېرو ته ځير شو، ګورو چې په دې موده کې د برېښنا شرکت مراجعين 443 سلنه زيات شوي. په 1382 کال کې د برېښنا شرکت 227854 تنه مراجعين لرل، خو په 1394 کال کې بيا 1.214656 ميليونه شول. دا تقاضا اوس د داخلي توليداتو په پرتله ډېره زياته شوې. افغانستان اوسمهال دغه تقاضا تر يوه حده د وارداتي برېښنا پرمټ پوره کوي. له همدې امله له 2003 کال څخه تر 2015 کال پورې يې له ګاونډيو هېوادونو څخه (22280) ميليون کيلو واټ پر ساعت برېښنا وارده کړه، چې ډېره برخه يې له ازبکستان څخه وه. د همدې لوړې تقاضا له امله ژمی په کابل او اوړی په ختيځو ولايتونو کې د برېښنا پرچاوي زياته وي.

○ **پانګونه:** په افغانستان کې د اوبو برېښنايي بندونه جوړول لويې پانګې ته اړتيا لري. د بېلګې په توګه يوازې د کونړ الف شال او ځاګي بند جوړولو لپاره 2200 ميليون ډالرو ته اړتيا ده. دغه بندونه به بيا تر 1100 مېګاواټه پورې برېښنا توليد کړي.

○ **له ګاونډيانو سره د اوبو وېش:** افغانستان له خپلو شپږو ګاونډيانو څخه له پنځو سره د اوبو اشتراکات لري؛ خو يوازې له ايران سره يې د اوبو د وېش تړون لاسليک کړی (د هلمند د اوبو تړون). که موږ د کونړ پر سيند او يا پر آمو سيند د برېښنا بندونه جوړوو، نو له دغو تړونونو پرته يا خو نشو کولای او يا به هم له ډېرو ستونزو او خنډونو سره مخ شو. اړينه ده، چې دغه ګډې اوبه د مخالفتونو پرځای د همکارۍ ډګر وګرځوو.

○ **د برېښنا ګرېډ (Grid) ته د کمو خلکو لاسرسی:** 38 سلنه خلک د افغانستان د برېښنايي زيرمې له نظام سره نښلول شوي. په لرې پرتو سيمو کې بيا دغه کچه له 10 سلنو څخه هم کمه ده. اړينه ده چې د هېواد ډېرې او د لرې پرتو خلک د برېښنا له ملي ګرېډ يا د برېښنايي زيرمې له نظام سره ونښلي چې له خپلو وسايلو پرته برېښنا ته لاسرسی ومومي.

## سپارښتنې

- د پانګې ترلاسه کولو لپاره په هېواد کې دننه د بانډونو او شيئرونو خرڅلاو او له دغې لارې په برېښنايي پروژو کې د هېواد پانګوال او خلک راګډول؛ دا کار له يوې خوا د پانګې په لاسته راوړلو کې مهم رول لري او له بلې خوا به يې امنيت هم ښه تضمين شي.

- له ګاونډيو هېوادونو او په تېره بيا له پاکستان سره بايد د اوبو د وېش تړونونه لاسليک شي. که دا ستونزه حل شي، نو له کوم خنډ پرته د هېواد پر هغو اوبو بندونه جوړولی شو چې له ګاونډيو سره شريکې دي.

- اوبه د هېوادونو ترمنځ هم د همکارۍ منبع ده او هم د دښمنۍ؛ بايد هڅه وشي چې دا موضوع له ګاونډيو سره د همکارۍ پر منبع بدله کړو. دغه کار هغه مهال کېدی شي چې افغانستان له خپلو ګاونډيو سره د اوبو د وېش تړونونه لاسليک کړي.
هر کال چې څومره اوبه د افغانستان له خاورې ګاونډيو هېوادونو ته بهېږي، کچه يې معلومه کړای شي او په دې اړه په سيستماتيک ډول له يو بل سره ارقام تبادله کړای شي.

- له ګاونډيو هېوادونو سره د اوبو د وېش پر سر په تړونونو کې بايد د ګاونډيو هېوادونو له حق څخه د اضافي اوبو په تړاو له دوی څخه پيسې وغوښتل شي. له ګاونډيو هېوادونو سره بايد د معلوماتو په تبادله، د اوبو پر جريان د څار او د اوبو په مديريت او پلان جوړونه کې دوه اړخيزه تخنيکي همکاري وشي.

- په افغانستان کې بايد د اوبو مديريت اغېزناک شي؛ ترڅو نه يوازې دا چې د کښت وړ ځمکې شاړې پاتې نه وي، بلکې نورې شاړې ځمکې هم د کښت وړ وګرځي.

دولت بايد په بېلابېلو سيمو کې د بندونو جوړولو او د برېښنا د فابريکو فعالولو ته ډېره پاملرنه وکړي، دا چاره به د برېښنا د اوسنيو ستونزو د له منځه تللو ترڅنګ، پر اقتصاد او تجارت هم مثبت اغېز وکړي.

- دولت بايد خصوصي سکتور وهڅوي، چې د برېښنا او اوبو په برخه کې پانګونه وکړي.

## پايله

له دغه لوی ظرفيت سره سره له بده مرغه ان د افغانستان د پلازمېنې اوسېدونکي کافي برېښنا نه لري. که د دغو سرچينو سم مديريت وشي او پانګونه پرې وشي، افغانستان د خپلو داخلي اړتياوو د پوره کولو او ان بهر ته د انرژۍ د صادرولو ظرفيت لري. د هېواد په هر ولايت او ولسوالۍ کې د انرژۍ د توليد سرچينې شته. په افغانستان کې څو لسيزې جګړې، نا امني او نور عوامل د پرمختګ په لار کې لوی خنډونه وو. استعمار د هېواد د پرمختګ په لار کې بل لوی خنډ و چې زموږ سرچينې يې لوټولې؛ استعمار هېڅکله نه دي غوښتي چې په افغانستان کې اساسي کار وشي، بلکې غوښتل يې چې وطن مو لا ويجاړ شي. نور خنډونه فساد او نا اهله چارواکي وو. اوس چې دا ټول ورک شوي، اسلامي امارت ته پکار ده چې د هېواد د ابادۍ لپاره خپل ګامونه لا چټک او ټينګ کړي؛ افغانستان پر خپلو پښو ودروي او په هره برخه کې يې د سيالانو سيال کړي. اسلامي امارت تر اوسه په دې کمه موده کې له ګڼو ستونزو سره سره ځينې مهم کارونه کړي چې د ستايلو دي. له دې ډلې د افغان انوېسټ پرانيستل دي چې له ډېرو سکرو څخه د برېښنا د توليد په برخه کې هم کار کوي. د کجکي بند د دويم فاز پرانيستل چې د دغه بند د توليد ظرفيت يې سل ميګاواټه نور هم زيات کړ. د مس عينک پروژې په پيل سره به هم سلګونه ميګاواټه برېښنا توليد شي او دغه راز د ټاپي او کاسا زر پروژو د کار په پيل سره به هم هغو سيمو ته چې د دغو پروژو پايپونه او لينونه ترې تېرېږي، برېښنا او ګاز ورکړل شي.

## ماخذونه


1-Elliott, Dennis. "Wind Resource Assessment and Mapping for Afghanistan and Pakistan." South Asia Regional Initiative for Energy Integration. National Renewable Energy Laboratory, June 2007. Web. 30 Jan. 2016.
2-"Afghanistan". The World Factbook. Central Intelligence Agency. Retrieved 2020-10-11.
3-"India's Controversial Afghanistan Dams". The Diplomat. August 20, 2018. Retrieved 2019-04-01.
4-Wilde, A (April 19, 2012). "Kabul River"
5-Various authors. "HELMAND RIVER". Encyclopædia Iranica (Online ed.). United States: Columbia University.
6-"Watershed Atlas of Afghanistan: Part IV" (PDF). aizon.org. Retrieved 27 August 2020.
7-https://bit.ly/3oY8xFL
8-https://bit.ly/3BSBeeL
9-https://bbc.in/3JEWC93
10-https://bit.ly/3BOXkPf
11-https://bit.ly/3JAthgc
12-http://tiny.cc/y7avuz
13-https://bit.ly/3zIUMzL
14-https://bit.ly/3deK0JV




# پاشدان بند؛
## اهمیت، ګټې او وروستي کاري پرمختګونه

امان الله حنيفي



په دې مقاله کې د پاشدان بند پر ارزښت، د دغه بند د برېښنا د تولید پر ظرفیت او وروستیو کاري پرمختګونو، خلکو ته د برابرې شوې کاري زمینې او په راتلونکې کې د دغه بند د ګټو په اړه مفصل بحث شوی دی.

## سریزه

افغانستان یو کرنیز هېواد دی او نږدې 15 میلیونه وګړي یې په کلیو او بانډو کې د کرنې له لارې د ورځني ژوند اړتیاوې پوره کوي، چې تر بل هرڅه ورته اوبه او د هغو مدیریت او راګرځول مهم دي. ځکه افغانستان په وچه کې راګېر غرنی هېواد دی، چې د اوبو زېرمې یې تر ډېره په موسمي اورښتونو پورې تړلې دي. دغه هېواد د خوږو اوبو سترې زېرمې لري، خو د دغو اوبو یوه ستره برخه یې ګاونډیو هېوادونو ته بهېږي، چې له امله یې خپله افغانان د اوبو له کمښت سره مخ دي. د افغانستان د اوبو او برښنا وزارت د معلوماتو پر بنسټ، په هېواد کې هر کال 57 میلیارده مترمکعب اوبه تولیدېږي، خو له دې جملې یوازې 25 سلنه یې افغانان کارولی شي او پاتې 75سلنه یې نورو هېوادونو ته بهېږي. په نړیواله کچه اقلیمي بدلونونو او د اورښتونو کچې کموالي ډېرې سیمې ځپلې دي، چې له امله یې د اوبو پر سر ډېر جنجالونه هم راپورته کړي. افغانستان هم د وچکالۍ ځپلو هېوادونو په کتار کې راځي، چې په دې وروستیو کلونو کې له دې امله ډېر اغېزمن شوی دی. افغان حکومت ته پکار ده چې له وچکالۍ سره د مبارزې، اقتصادي وضعیت د ثبات پیدا کولو او خپلو اوبو راګرځولو لپاره په افغانستان کې د ټولو لویو او کوچنیو بهېدونکو حوزو لپاره په بېلابېلو ځایونو کې د اوبو بندونه جوړ کړي، چې له نېکه‌مرغه په دې وروستیو کې د اوبو او انرژۍ وزارت له لوري دغه هڅې پیل شوې دي او د ځینو بندونو د جوړولو کارونه تر ډېره مخکې شوې هم دي، چې له دې جملې یو هم په هرات ولایت کې د پاشدان بند دی چې د اوبو او انرژۍ وزارت د معلوماتو پر اساس یې د جوړېدو چارې 85 سلنه ترسره شوې دي. زموږ د مقالې اصلي موضوع هم د پاشدان بند دی او کوښښ کوو چې د پاشدان بند پروژې پر اهمیت، ګټو او وروستیو کاري پرمختګونو متمرکز و اوسو.

## په افغانستان کې د اوبو مدیریت او بندونو جوړولو اړتیا

اوبه یوه طبیعي سرچینه ده او د ژوندیو موجوداتو دغې حیاتي مادې د ځمکې کُرې ډېره یعنې د ځمکې کابو 71 سلنه برخه نیولې، خو هغه برخه چې د ځمکې د مخ موجوداتو په تېره بیا انسانانو د بقا لپاره ده، له ټولو اوبو درې سلنه ده چې د بشري ژوند لپاره د استفادې وړ دي او د خوږو اوبو په توګه یادېږي. خوږې اوبه په سیندونو، چینو، کنګلونو، ډنډونو، لنډمهاله سطحي او ترځمکې لاندې زېرمو کې دي چې د نړۍ د وګړو د شمېر زیاتوالي او د سپکو او درنو صنایعو پراختیا ته په پام سره چې د تولید په برخه کې اوبو ته اړتیا لري، د نړۍ په بېلابېلو برخو کې د اوبو سرچینو ته د انسانانو لاسرسی له ستونزو سره مخامخ کړی دی. افغانستان په کال کې په منځنۍ توګه د 250 میلي متره اورښتونو په لرلو، په کال کې د 57 میلیارد متر مکعبه خوږو اوبو د تولید ظرفیت لري چې یوازې له شل سلنې یې استفاده کېږي. ډېره برخه دغه اوبه په افغانستان کې د بندونو نشتون له امله ضایع کېږي، چې پرته له کوم حساب ګاونډیو هېوادونو ته بهېږي. افغانستان په اوسنیو شرایطو کې د اوبو سرچینو د مدیریت او اوبو د کنټرولولو موخې ته د رسېدو لپاره باید د اوبو سرچینو د مدیریت په تګلاره کې د امنیت ټینګښت، سیاسي ثبات او له هغو ګاونډیو هېوادونو سره چې له اوبو ګټه پورته کوي اړیکو ته پاملرنه وکړي او په دې برخه کې د نړیوالې ټولنې او سرچینو له جلبولو سره سره، د اړوندو بنسټونو ترمنځ همغږي رامنځته کړي او د اوبو مدیریت په علمي بحث بدل کړي. د افغانستان اسلامي امارت د اوبو او انرژۍ وزارت مرستیال انجنیر مجیب‌الرحمن عمر ملت د حساب ورکونې پر مهال په یو خبري کنفرانس کې وویل، د اوبو مدیریت او بندونو جوړولو اړتیا ته په کتو د اوبو سم مدیریت کولای شي افغانستان د اقتصاد او انرژۍ برخه کې پر ځان بسیا کولو سربېره، پر یوه صادرونکي هېواد هم بدل کړي. ښاغلي عمر زیاته کړه چې د پخواني رژیم لخوا د اوبو د ناسم مدیریت له کبله 60 سلنه خلک پاکو اوبو ته لاسرسی نه لري او که په دغه برخه

کې په وخت او اساسي ګامونه وانخیستل شي، لا ډېر خلک به پاکو اوبو د څښاک له کمښت سره مخ شي. د انجنیر مجیب الرحمن عمر په خبره، اوبو او انرژۍ وزارت په هغو ولایتونو کې چې د اوبو له کمښت سره مخ دي، د لویو او وړو چیک ډیمونو په جوړولو سره غواړي د پاکو اوبو د کمښت ستونزه حل کړي، چې په دې سره به د هېواد د کرنیزو محصولاتو کچه هم زیاته شي. د اوبو او انرژۍ وزارت چارواکي وايي، چې د راتلونکي کال لپاره د دوی انکشافي بودیجه او د اوبو د 85 بندونو جوړولو لګښت ټول له خپلو داخلي عوایدو پوره کوي. ځکه د دغه وزارت ورځني عواید په شفاف ډول او پرته له فساد د وزارت خزانې ته جمع کېږي. له هغه ورځې راپدېخوا چې اسلامي امارت واک ته رسېدلی، د اوبو او انرژۍ وزارت د ناتکمیل شوو بندونو پر جوړولو په چټکۍ سره کارونه پیل کړي دي، چې بېلګه نمونه یې د کمال خان او کجکي بندونو د پاتې کارونو بشپړول دي. څه وخت وړاندې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د کجکي بند د دویم فاز پروژه ګټې اخیستنې ته وسپاره چې د برېښنا تولید ټولیز ظرفیت یې له 51 څخه 151 میګاواټه ته لوړ شو. د همدې ناتکمیل شوو بندونو د کارونو تکمیلېدو په سلسله کې د افغانستان اسلامي امارت د اوبو او انرژۍ وزارت پلان لري، چې د هرات ولایت په کرخ ولسوالۍ کې د پاشدان بند پاتې کارونه هم بشپړ کړي.

## د پاشدان بند پروژه

د پاشدان بند پروژه د هرات ولایت په کرخ ولسوالۍ کې موقعیت لري، چې د ډیزاین او ساختماني کارونو د بشپړولو قرارداد یې له هېوادوال او ایوراسکن آذربایجاني شرکت سره د1397 لمریز کال د سنبلې میاشتې په دریمه نېټه چې د 2018 کال د اګسټ میاشتې له 25مې نېټې سره برابره ده، لاسلیک شوی دی. د دغه قرارداد پر اساس ټاکل شوې وه چې هېوادوال او ایوراسکن آذربایجاني شرکت به د 117،883،414.52 امریکایي ډالرو په مقابل کې د پاشدان کارونه د 1400 لمریز کال د دلوې میاشتې په 24مه نېټه چې د 2022 کال د فبروري له 13مې نېټې سره برابره ده، سرته رسوي. خو د بېلابېلو دلایلو له امله د دغه پروژې ډېری کارونه نه دي ترسره شوي، چې اوس یې اسلامي امارت د بشپړولو هڅې پیل کړې دي او ټاکل شوې چې په نږدې راتلونکي کې به یې چارې بشپړې او ګټې اخیستنې ته به وسپارل شي.

د پاشدان بند پروژې

## تخنیکي مشخصات

- د هغه تړون پر اساس چې هېوادوال او ایوراسکن آذربایجاني شرکت سره شوی دی، د پاشدان بند دیوال او بدنه به له خاورو جوړېږي، چې د اړتیا وړ مواد به یې ټول د بند له کاسې اخیستل کېږي. د پاشدان بند ټولټال 1113 متره اوږدوالی، د دیوال په سر کې چې پوره رسېدلی او نور کار پرې نه کېږي 8 متره عرض او د بند له تلې 41 متره ارتفاع یا لوړوالی لري، چې ټولټال به د 54.22 میلیون مترمکعب اوبو د ذخیره کولو وړتیا ولري.
- د بارانونو او واورو د اورېدو او یا هم د موسمي سیلابونو د راوتلو په وخت کې چې د بند کاسه ډکېږي، د سرریز اوبو لپاره د پرچاوو جوړول چې له دې اوبو به بیا په بېلابېلو برخو کې استفاده کېږي؛
- د اوبو د تېرېدو، څارلو او کنټرول لپاره د کانکریټ لرونکي سیخدار تونل جوړول؛
- د پاور هاوس جوړول او د دوه میګاواټه برېښنا د تولید په اندازه د دوو توربینونو نصبول؛ چې له دغې برېښنا به په هرات ولایت کې استفاده کېږي؛
- د 600 متره په اوږدوالي د تغذیوي کانال جوړول او د اوبو د وېش ساختمان؛
- پر اړوندو ساختمانونو او فرعي ویالو سربېره، ښي لاس ته د 11.021 کیلومتره په اوږدوالي د اصلي کانال جوړول؛
- پر اړونده ساختمانونو او فرعي ویالو سربېره، کیڼ لاس ته د 14.167 کیلومتره په اوږدوالي د اصلي کانال جوړول؛
- 65000 جریبه ځمکې خړوبول؛
- د 280 متره په اوږدوالي د انحرافي کانال جوړول؛
- د هستوګنیزو ودانیو، کاري کمپ او پروژې د اړتیا وړ ساختماني موادو لپاره د هنګرونو جوړول؛
- د چاودېدونکو موادو لپاره د ډیپوګانو جوړول؛
- د 9.2 کیلومتره په اوږدوالي د هرات-میمنې سړک بدیل سړک جوړول؛



د پاشدان بند پروژې

## اهمیت او ګټې

مور مخکې یادونه وکړه چې دغه پروژه د هرات ولایت په کرخ ولسوالۍ کې موقعیت لري. کرخ ولسوالي د هرات ولایت له مرکز سره په 35 کیلومترۍ کې پرته ده، چې شمال ته یې کُشک کهنه او کشک رباط سنګي ولسوالۍ، سویل ته یې پښت زیرعان او اوبه ولسوالۍ، ختیځ ته یې بادغیس ولایت او لویدیځ ته یې انجیل ولسوالي پرته ده. دغه ولسوالي 120 زره نفوس او څه باندې دوه زره کیلومتره مربع مساحت لري، چې ټولټال پکې 186 لوی او کوچني کلي جوړ شوي دي.

1. د کرخ ولسوالۍ اوسېدونکي تر ډېره په کرنه او مالدارۍ لګیا دي او د خپل ورځني ژوند اړتیاوې هم له همدې لارې پوره کوي. په دغه ولسوالۍ کې د افغانستان د نورو سیمو په څېر وخت ناوخت موسمي بارانونه کېږي، چې له امله یې لوی سیلابونه راوځي، چې خلکو ته پر ځان زیانونو سربېره، مالي زیان هم رسوي او په زرګونو هکتاره کرنیزې ځمکې یې هم له منځه وړي. د دې لپاره چې د دغو سیلابونو له اوبو په کرنه او مالدارۍ کې پر وخت او ښه استفاده وشي، د اوبو او انرژۍ وزارت غوره وبلله چې د یادو سیلابونو راګرځولو لپاره د پاشدان بند جوړ کړي.

2. دغه بند په کرخ ولسوالۍ کې د 54 میلیون مترمکعب بهېدونکو اوبو د راګرځولو او ذخیره کولو په موخه جوړېږي، چې له امله به یې په کرخ، پشتون زرغون او انجیل ولسوالیو کې 13000 هکټاره کرنیزه ځمکه خړوبه او په زرګونو خلکو ته به په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره کړي.

3. د پاشدان بند په جوړولو سره به د هرات میلیوني ښار لپاره د دغه ولایت شمالي کمربند ښېرازه وساتل شي او په ټوله کې به یو سالم او طبیعي چاپېریال رامنځته کړي.

4. د کرنیزو ځمکو پر خړوبولو او ښېراز طبیعي چاپېریال رامنځته کولو سره به دغه بند د دوه میګاواټه برېښنا د تولید ظرفیت هم پیدا کړي، چې له برکته به یې د هرات ولایت ډېرو سیمو ته برېښنا ورکړل شي. ټاکل شوې چې د کارونو له بشپړېدو وروسته به پر دغه بند د برېښنا د تولید دوه توربینونه ونښلول شي.

5. د پاشدان بند په جوړېدو سره به زرګونو کسانو ته په مستقیم او غیر مستقیم ډول د کار زمینه برابره شي.

6. د یاد بند په بشپړېدو سره به ښارونو ته د کلیوالو خلکو له کډوال کېدو مخنیوی وشي. په ډېری ولایتونو کې له ښارونو د لرو پرتو سیمو خلک د وروستیو وچکالیو او اوبو نشتون له امله ښارونو ته کډوال کېږي، چې په ښارونو کې د خلکو زیاته ګڼه ګوڼه خپل یوه لویه ستونزه زېږوي.

7. د پاشدان بند په جوړېدو سره به اقتصادي څرخ په حرکت راوستل شي او د کرنې په برخه کې به د پر ځان بسیاینې پر لور یو اساسي ګام واخیستل شي. د کرخ ولسوالۍ اصلي کرنیز محصولات غنم، رومي بانجان، کچالو، نخود، تنباکو او بېلابېلې

د بند په تهداب کې د خاورې د څېړلو او تحقیق لپاره د 27 برمو وهل، څو په ښه ډول د خاورې نوعیت معلوم شي؛

- د بند د ساختماني کارونو د جوړېدو پر مهال د ترافیکي ګڼې ګوڼې کمولو په موخه د موقتي انحرافي سړک جوړول، ځکه چې د بند اصلي محور د هرات-میمنې اوسنۍ لاره قطعه کوي؛
- د کرخ ولسوالۍ ډېری اوسېدونکي د خپل ورځني ژوند اړتیاوې د کښت او کرنې له لارې پوره کوي، چې د یادې ولسوالۍ پر ډېره ځمکه آبي غنم او کمه هغه یې بیا للمي کرل کېږي.

میوې دي، چې د دغه بند په بشپړېدو سره به یې حاصلات څو چنده زیات او کروندګرو ته به د عوایدو یوه ښه لاره وګرځي.

8. د دې پروژې په بشپړېدو سره به زرګونه هکټاره هغه ویجاړه شوې ځمکه بېرته ورغول شي، چې سیلابونو له منځه وړې او اوسمهال د کرنې وړ نه دي. دا ځمکې د سیلابونو راوتلو له امله په خوړونو او ریګ بدلې شوې دي.

9. د پاشدان بند په تکمیلېدو سره به په ښه ډول د کرخ سیند 100 میلیون مترمکعب موسمي اوبه تنظیم، کنټرول او کرنه کې ترې استفاده وشي.

10. د دې پروژې به بشپړېدو سره به د هرات ولایت د اوسېدونکو او بیرونیو سیلانیانو لپاره مناسب او ښکلي تفریحي ځایونه جوړ شي، چې په دې سره به د سیاحت له درکه د دولت خزانې په کلني ډول یوه اندازه عواید جمع کېږي.

11. د پاشدان بند په محدوده کې به د کبانو روزنې او دغه ظرفیت د پیاوړتیا په موخه روزنیز فارمونه جوړ شي. په دې سره به په هرات ولایت کې د کبانو روزنې سکټور وده وکړي او له بهر د واردېدونکو کبانو مخنیوی به وشي. د یاد بند په بشپړېدو سره په دغه برخه کې خلک پانګونې ته لېواله کېږي، چې په کور دننه به سلګونو کسانو ته د کار زمینه برابره کړي.

12. تر ځمکه لاندې اوبو تغذیه. په نړیواله کچه د اقلیم بدلون، په وروستیو کلونو کې پرلهپسې وچکالۍ، د واورو او بارانونو کمښت، د یخچالونو ویلې کېدل، په غیر قانوني ډول او له حد زیات د تر ځمکې لاندې اوبو را ویستل او ورځ په ورځ د نفوس زیاتوالي سره په افغانستان کې د اوبو کمښت ستونزه جدي کېږي. د پاشدان بند په جوړېدو سره به تر ځمکې لاندې اوبو ذخیرې تر یوه حده بېرته تغذیه او د کمښت مخنیوی به یې وشي.



## د پاشدان بند پروژې اساسي موخه

د افغانستان اسلامي امارت د اوبو او انرژۍ وزارت وایي، چې د پاشدان بند جوړولو اساسي موخه د موسمي سېلابونو کنټرول، د کرنیزو ځمکو خړوبول، د برښنا تولید او په ټوله کې د اوبو مدیریت دی. د دغه وزارت چارواکي وايي، په کرخ ولسوالۍ کې هر کال زیات موسمي سېلابونه راوځي چې له کومې ګټې اخیستنې پرته له هېواده وځي. هغوی زیاتوي چې د دغه بند په بشپړېدو سره به دغه سېلابونه راوګرځول شي، په زرګونو هکټاره شاړه ځمکه به خړوبه او تر ځمکې لاندې اوبو ذخیرې به تغذیه شي.

## د پاشدان بند اوسنی وضعیت او وروستي کاري پرمختګونه

د هرات پاشدان بند کار د لومړي ځل لپاره په 1390 لمریز کال کې پیل شو او ټاکل شوې وه چې په دریو کلونو کې یې هر څه بشپړ شي؛ خو د ځينو علتونو له مخې پر دغه بند کار ودرېد او په اوو کلونو کې يې ایله 30 سلنه کارونه مخته ولاړل. له هغه وروسته په 1397 لمریز کال کې د کابل د تېرې اداري پر مهال د دغه بند د پاتې کارونو بشپړولو قرارداد له هېوادوال او ایوراسکن آذربایجاني شرکت سره لاسلیک شو او ټاکلې شوې وه چې کارونه به یې د دریو کلونو په اوږدو کې بشپړېږي. دغه شرکت هغه مهال د کارونو چټک پر مخ وړلو لپاره دوه وخته کار کاوه، لس ساعته یې د ورځې او پنځه ساعته هم د شپې پر مهال، چې تر وروستیو سیاسي تحولاتو د مخه یې یوڅه کارونه مخ ته ولاړل.

په افغانستان کې د وروستیو سیاسي تحولاتو په رامنځته کېدو سره د دغه بند پاتې کارونه ودرېدل او له څه وخت وروسته د اسلامي امارت د اوبو او انرژۍ وزارت مرستیال انجنیر مجیب‌الرحمن عمر د دغه بند د وضعیت ارزونې او له نږدې د پاتې کارونو لیدو په موخه کرخ ولسوالۍ ته سفر وکړ. د اوبو او انرژۍ وزارت د دغه بند ارزښت او د کاري پرمختګ کچې ته په کتو پرېکړه وکړه چې د دغه بند پاتې کارونه باید بشپړ شي، څو د راتلونکي کال لپاره هم اوبه ذخیره کړي او هم د موسمي سیلابونو د راګرځولو مخنیوی او کنټرول وشي. د اوبو او انرژۍ وزارت د پاشدان بند د پاتې کارونو د پیلولو موضوع د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسیون ته راجع کړه، څو یې په اړه لازم تصمیم ونیول شي. د هرات ولایت په کرخ ولسوالۍ کې د پاشدان بند د پاتې کارونو پر بشپړولو د اقتصادي کمېسیون په 26مه غونډه کې هراړخیز بحث وشو. د الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ اقتصادي کمېسیون صنعت او سوداګرۍ او د اوبو او انرژۍ وزارتونو ته دنده وسپارله، چې د خصوصي پانګونې له لوري د دغه بند پاتې کارونه بشپړ کړي.



## سرچینې:


https://taand.net/?p=144516

https://csrskabul.com/?p=7006
https://www.safiahaleem.com/?p=5582

https://www.pashtovoa.com/a/afghanistan-water-management/4103457.html

https://www.bbc.com/pashto/afghanistan-45217697
https://bit.ly/3QjH78k

https://8am.af/ps/water-and-water-management-problems-in-afghanistan/

# د بخش اباد بند

## د جوړېدو تاریخي بهیر او اقتصادي اهمیت ته لنډه کتنه

احسان الله ذهین

په دې مقاله کې د بخش‌اباد بند په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې شوي. د بخش‌اباد بند د جوړېدو بهیر تاریخچه، د دغه بند د برښنا او ذخیره کېدونکو اوبو ظرفیت، خړوبوونکې ځکمه، د بند تخنیکي جزیات، د اوبو په مدیریت کې او د هېواد په اقتصادي وده کې د بخش‌اباد بند رول او نور مهم موضوعات په دې مقاله کې راسپړو، هیله ده ویې لولئ.



## سریزه

بخش‌اباد بند د هېواد په کچه یو مهم بند دی چې د ذخیروي ظرفیت پر اساس تر کجکي بند وروسته د ډېرو اوبو د زېرمه کولو وړتیا لري. دغه بند د فراه ولایت بالابلوک ولسوالۍ په بخش‌اباد سیمه کې پر فراه رود سیند جوړېږي، چې ډېرې اوبه یې دا مهال ایران ته ځي. فراه رود د افغانستان د فراه ولایت په شمال ختیځ کې یو فصلي سیند دی چې د غور له دولینه ولسوالۍ سرچینه اخلي، تر 560 کیلومتره جریان وروسته له هلمند سیند سره یوځای کېږي. د غور له ولایته په تېرېدو سره د فراه شګلنو سیمو او هامون دښتو ته سر باسي. بخش‌اباد بند اوس د فراه او شاوخوا ولایتونو د اوسېدونکو له اساسي او مهمو اړتیاوو څخه ګڼل کېږي، ددغو سیمو اوسېدونکي د سطحي اوبو له جدي کمښت سره مخ دي چې له امله یې دوی اړ شوي ترڅو د تېرو څو کلونو راهیسې له ځمکې لاندې اوبو څخه د زراعت او څښاک په موخه استفاده وکړي؛ چې دا کار د اوبو په برخه کې د یوې بلې فاجعې لامل کېږي. دغه بند 81 متره لوړوالی لري او د زېرمې توان یې 1360 میلیونه متر مکعبه دی. د بخش‌اباد بند د 27 میګاواټه برېښنا د تولید توان لري چې په جوړولو سره به یې نه یوازې د فراه ولایت روښانه شي، بلکې د دغه ولایت تر سل زرو هکتارو ډېره ځمکه به هم خړوبه کړي او د سطحي اوبو په مدیریت کې به رغنده رول ولوبوي.

## د بخش‌اباد بند تاریخچه

بخش‌اباد بند د فراه د اوسېدونکو یوه پخوانۍ هیله ده چې له کلونو راهیسې یې جوړېدو ته په تمه دي. دوی د خپل هوسا ژوند او اقتصادي ودې هیلې په دغه بند پوره غوټه کړې دي. له ډېرو پخوا زمانو راهیسې په باراني موسم کې د باراني اوبو د ضایع کېدو او په نورو موسمونو کې د اوبو کمښت او وچکالۍ ته په پام سره د فراه ولایت خلک د دې ستونزې د حل په لټه کې وو. د علم په پرمختګ او په افغانستان کې د اوبو بندونو د جوړېدو په پیلامې سره د دغه ولایت خلکو او د افغانستان حکومت وپتېیله چې د فراه‌رود سیند پر مسیر بند جوړ کړي. څو ځایونه د دغه کار لپاره مشخص کړل شول، چې په پای کې د بخش‌اباد په نامه سیمه د اوبو زېرمې او برېښنا تولید د بند لپاره وټاکل شوه او دغه ځای تر نورو ټولو غوره انتخاب و. بیا هم څو کاله دغه پرېکړه یوازې د کاغذ پر مخ پاتې وه، ترڅو سردار محمد داود خان د یوه لوړ پوړي دولتي هیئت په لېږلو سره د دغه بند د سروې فرمان ورکړ. هغه مهال داخلي شرکتونو د دغه بند د سروې لپاره اړین امکانات او ظرفیت نه درلود، نو د سروې قرارداد یې له یوې فرانسوي کمپنۍ سره لاسلیک کړ. د بخش‌اباد بند لومړنۍ څېړنې په 1977 کې د سردار محمد داود خان د حکومت پرمهال پیل شوې، خو له بده مرغه



کمونیستي کودتاه د نورو پروژو په څېر دغه پروژه هم تر بشپړېدو پرېښودل شوه او د سروې کار یې تر 2009 پورې هېڅ پیل نه شو. په 2009 کې له یوه هندي شرکت سره قرارداد وشو ترڅو د فرانسوي شرکت کار بشپړ کړي. دغه شرکت د څو نورو کمپنیو په مرسته د بخش‌اباد بند د سروې کارونه بشپړ کړل. د دغه بند سروې د شاوخوا دوو کلونو په اوږدو کې د 3 میلیونه امریکایي ډالرو په لګښت بشپړه شوه. په 2013 کې د بخش‌اباد بند اقتصادي اهمیت ته په کتو د دې پروژې د تفصیلي ډیزاین قرارداد د «نیسپاک» په نامه له یوه پاکستاني شرکت سره وشو. په همدغه کال یې د ډیزاین چارې پیل شوې خو دغه شرکت د دریو کلونو په جریان کې د دې پروژې یوازې 8% کارونه ترسره کړل. په کار کې د ځنډ، بې‌ظرفیتۍ او پوره ورتیا د نشت له امله له دغه شرکت سره قرارداد فسخه شو. په 2016 کې د دغه بند د تفصیلي ډیزاین قرارداد د 4.5 میلیونه ډالرو په ارزښت له «هایدرو ارک» ایټالوي شرکت سره وشو، ټاکل شوې وه چې په 18 میاشتو کې یې د تفصیلي ډیزان چارې بشپړې شي خو د چاپیریالي ستونزو او ناامنیو له امله یې شاوخوا درې کاله وخت ونیو. په 1399 هـ.ش کال کې پر بند کار کولو ته د زمینې برابرولو په موخه د بند له کاسې څخه د اوبو ګرځولو د دوو انحرافي تونلو قرارداد له یوې ترکي کمپنۍ سره وشو، چې تر اوسه یې شاوخوا 50٪ کار ترسره شوی او تر دې وروسته به د بند د کاسې او اصلي ساختمان کارونه پیلېږي. د روان 2022 کال د جون په 9مه د ریاست الوزراء د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون په 22مه غونډه کې مالیې وزارت، اوبو او انرژۍ وزارت، د افغانستان بانک او د فراه ولس استازو یوې ګډې کمېټې ته دنده وسپارل شوه، چې د فراه د بخش‌اباد بند له نږدې وګوري او د پاتې کارونو په اړه یې د دغه کمېسیون راتلونکي مجلس ته راپور وړاندې کړي.[1]



## د بخش‌اباد بند
# تخنیکي جزیات

ددغه بند ساختماني چارې پر دوو فازونو وېشل شوې دي:

**لمړی فاز:** د بند جوړېدو پر مهال د کار د اسانتیا په موخه د اوبو مسیر د بدلون لپاره 2 انحرافي تونلونه دي، ترڅو اوبه د بند له تهداب څخه لرې انتقال کړي، چې لومړی یې 8 متره او دویم یې 5 متره قطر لري. مجموعې اوږدوالی یې 1065 متره دی. له دغو تونلونو څخه به د بند ساختمان تر جوړېدو وروسته د سیلابونو او بحراني حالاتو پر مهال د احتیاطي آبریز په توګه ګټه اخیستل کېږي. ددغه فاز کارونه په 1397 کال کې له یوې ترکي کمپنۍ سره قرارداد او شروع شوي وو چې تردې دمه د دواړو تونلونو د کیندلو کار 554 متره تکمیل شوی دی.

**دویم فاز:** ساختماني چارې دي، چې قرارداد یې تر اوسه نه دی شوی. په دغه فاز کې د اوبو تظیمونکي ساختمانونه، د اوبولو کانالونه او د سړک ساختماني کارونه شامل دي:

### د بخش‌اباد اصلي بند او ظرفیت یې

- د بخش‌اباد بند 80.9 متره لوړوالی او 422.2 متره اوږدوالی لري.
- د 1360 میلیون مترمکعب اوبو د ذخیرې وړتیا لري.
- د 104528 هکتاره ځمکې لپاره د دایمي اوبه چمتو کوي.
- د 27میګا واټه برېښنا د تولید ظرفیت لري.

د دغه بند په ساختمان کې د لاندې زيربناوو جوړول شامل دي:

## فرعي بند

دغه بند 3513.9 متره اوږدوالی لري چې د بند دکاسي د ذخيروي ظرفيت د زياتوالي په موخه د سيند پر کيڼ اړخ جوړېږي، اعظمي لوړوالی يې 35 متره، لاندينی پراخوالی يې 158 متره او پاسنی پراخوالی يې 6 متره دی.

## د اوبولو کانالونه

د دغه بند ذخيروي اوبه بايد کرنيزو ځمکو ته هدايت شي، نو کرنيزو ځمکو ته د اوبو د هدايت لپاره بايد د اوبولو شبکې هم جوړ شي. په لومړنۍ سروې کې د اوبولو او کرنيزو ځمکو ته د اوبو رسولو لپاره د دغه بند په ساختمان کې کانالونه هم په پام کې نيول شوي دي. دغه بند به د اوبولو دوه کانالونه ولري، چې د فراه تر ډېرو ولسواليو به اوبه ورسوي. دغه کانالونه په لاندې ډول دي:

ښي طرف ته اساسي کانال 50 کيلو متره اوږدوالی لري او د 95.5 متر مکعبه اوبو د انتقال وړتيا لري.

کيڼ طرف ته اساسي کانال 52 کيلو متره اوږدوالی لري او د20.25 متر مکعبه اوبو د انتقال وړتيا لري.

د 135 کيلو متره په اوږدوالي توزيعي کانالونه، د 226 کيلومتره په اوږدوالي فرعی کانالونه، د 221 کيلومتره په اوږدوالي دويم لاس فرعي کانالونه پکې شامل دي.

## سړک

له عمومي سړک څخه د بند تر ساحې پورې 33 کيلومتره، له عمومي سړک څخه تر Saddle بند پورې 27 کيلومتره، 26 کيلومتره د ښي طرف اساسي کانال سړک او 70 کيلومتره ارتباطي سړکونه پکې شامل دي. [2]







# په افغانستان کې د اوبـو د سرچینو مدیریت اړتیا او اهمیت

اوبـه د بـشر د ژوند یو اسـاسي تـوک دی. هېڅ هېـواد د اوبو درلودو لـه ڇاڼ پرته خپل اقتصادي، ټولنیز او سـیاسي ثبات نه شي ساتلی. د اوبو سرچینو ته له پاملرنې پرته د اوبـو او خـوړو له نظره د راتلونکو نسـلونو امنیت نه تامینېږي.

هغـه پرمختلـلي هېوادونـه چـې لـه افغانستان سره ورته اقلیمي وضعیت لري، د کلنیو او موسـمي بارانونو وضعیت ته په کتـو یـې د اوبـو د زېرمـه کولـو مناسـبې سرچینې جوړې کړې دي. په دې طریقه کې د اوبـو زېرمه کوونکـي بندونه او تر ځمکې لاندې ذخیرې پکې شاملېږي، ترڅو په هغو کلونو کې چې ورښـتونه کم وي، ګټه ترې واخیسـتل شي. افغانسـتان هـم په دغو روشونو د اوبو سم مدیریت کولی شي.

پرمختلـلي هېوادونـه د اوبـو سرچینـو مدیریت پاملرنې ته د دولت د لومړیتوبونو په سر کې ځای ورکوي او له حیاتي اهمیته یـې غافل نـه دي. د یوه هېـواد صنعتي او اقتصادي وده او د ژوند سـوکالي د اوبو له سرچینو سره غوټه دي.

تر پولو اوښتونکو اوبو بحث د یوې سیمې د سـولې او ثبات په ټینګښت کې خورا ډېر اهمیت لري. د سیاست په مقوله کې اوبه نـورې یـوازې د یـوه ټولنیـز عنصر پـه توګه مطرح نه دي. اوبه په نني دولت ملت نظم او اوسـنۍ نړۍ کې د یـوه تجارتي توک په توګه د بحث موضوع ده او له همدې امله تر پوله اوښتونکې اوبه له فوق‌العاده اهمیت څخه برخمنې کېږي.

افغانسـتان د کاغـذ پـر مـخ د 57 میلیـارد مترمکعبه اوبو په درلودو، د اوبو د سرچینو له نظره په نړۍ کې پر ځان بسیا هېواد ګڼل کېـږي؛ خو د اوبـو د زېرمه کولـو او له هغو څخـه د ګټـې اخیسـتنې لـه اړخـه د نـړۍ د هېوادونـو د نوملړ په پـای کې ځای لري. په داسې حال کې چې افغانستان څو له اوبو ډکـې حوزې لري چې د دغه هېواد د وچو او شـاړو دښـتو د اوبولو او ابادولـو لپاره اوبه چمتو کولی شي.

په افغانستان کې د کرنې وضعیت د واورو او بارانونـو په وضعیت پورې تړلی دی. کرنه له اوبـو پرته نه کېږي او کرنیزې ځمکې هم اکـثراً د سـیندو تـر څنـګ پرتـې نـه دي. په وچکالۍ کې بزګران کوهي باسي، چې له یـوې خوا تـر ځمکه لانـدې د اوبو سرچینې اغېزمنوي، سـطحه یې ټیټوي او د څښـاک اوبو ته لاسرسـی سـختوي او بلـې خواته یې د وچېدو امکانات هم ډېر دي. نو له دې ځایـه د اوبـو د مدیریـت بحـران د اوبـو سرچینې اغېزمنـوي او اقتصادي بې‌ثباتي رامنځته کوي.

د هېواد د مهمو لکه امو، هلمند، هریرود – مرغاب او کابل سیندونو ډېرې اوبه ګاونډیو هېوادونو لکه پاکسـتان، ایران، ترکمنستان او ازبیکسـتان تـه ځـي. د اوبـو د ذخیـرې د اسـاسي زیربناوو نشـت په کرنیزو سـاحو کې د ډېرو ځمکوالو او بزګرو پر ژوند منفي اغېز کړی او حتی په ځینو سـیمو کې خلک له کروندو او اطرافو څخه د اوبو د کمښـت له امله ښارونو ته رامات شوي دي.[3]

دغه راز په افغانستان کې د اوبو د مدیریت پـه برخه کې د نظامونو د کمزورۍ په وجه د سـیلابونو او فصلي اوبو د زیاتېدو له امله خلکو ته یوازې ویجـاړۍ او زیانونه ورپه برخه کېږي او د اوبو د کمښت په موسمونو کې د اوبو له نشته کړېږي. په هېواد کې اوبه د کال په ځانګړو موسـمونو کـې زیاتېږي، که یې په سم مدیریت د اوبو د کمښت وخت ته ذخیره نه کړلی شـو، دغه وضعیت هېواد تـه د وچکالـۍ او اقلیمـي بدلونونـو پـر وړاندې سخته ضربه ورکوي.

یـو هېـواد او خلک یـې له فقـر، اقتصادي سـتونزو، ناامنیـو او هـر ډول کړاونو سره

مبارزه کولی شي؛ خو له اقلیمي بدلونونو او وچکالۍ سره مبارزه د هر ژوندي موجود تر وس پورته خبره ده. د اوبو کمښت هر څه له منځه وړي، د ژوند رېښې وچوي او نسلونه ختموي. نو باید پاملرنه ورته وشي، زمونږ غفلت راتلونکي نسلونه د مرګ کومې ته ورکوي.

د افغانستان د اوبو سرچینې او د اوبو سیاست دغه هېواد په سیمه‌ییزو مناسباتو او له ګاونډیانو سره په اړیکو کې له یوه فقیر هېواده پر یوه داسې هېواد بدلوي چې خپلو ګاونډیانو ته ژوند ډالۍ کوي. افغانستان تر پوله د اوښتونکو اوبو څلور حوزې لري، د آمو حوزه چې منځنۍ اسیا هېوادونو او افغانستان تر منځ ګډه پوله ټاکي. له ایران پرته له نورو هېوادونو سره د اوبو د وېش پر سر هوکړه‌لیک هم نه لري. نو د خپلو اوبو له لارې له ګاونډیانو سره ښې تجارتي اړیکې جوړولی شي.

افغانستان د اوبو په کنټرول کولای شي د ګاونډیانو مداخلې بندې کړي یا له ګاونډیو هېوادونو څخه امتیازات ترلاسه کړي یا هم ګاونډیان تر فشار لاندې راولي؛ خو ګاونډیان به هله دا فشار ومني چې افغانستان د اوبو د کنټرول توان پیدا کړي.



## د اوبو په مدیریت او اقتصادي وده کې د بخش‌اباد بند اهمیت

په داسې شرایطو کې چې د وچکالۍ څپو تر بل هر وخت افغانستان او ګاونډي هېوادونه راچاپېر کړي، هر څاڅکی اوبه هېوادونو ته حیاتي اهمیت لري. که د افغانستان دولت وغواړي چې اوبه مدیریت کړي، نو له بندونو جوړولو پرته بله لاره نه لري. که څه هم د بندونو جوړول خورا لوړ لګښت لري، ګاونډي هېوادونه هم تل مزاحمتونه او خنډونه ورته جوړوي او دغه‌راز مرستندوی هېوادونه د اوبو د وېش د حساسیت له امله په دې برخه کې پانګونې ته چندان زړه نه ښه کوي؛ خو د سطحې اوبو د مدیریت، تر ځمکې لاندې اوبو د تغذیې او د هغو د بې‌رویې استفادې د مخنیوي او په ټوله کې د وچکالۍ بحران د حل لپاره له بندونو جوړولو او پر بله هره لاره د اوبو له زېرمه کولو پرته بله چاره نشته.

د اوبو د مدیریت په موخه هلې ځلې او کوټلي ګامونه د داود خان دورې ته ورګرځي، نوموړي د اوبو مدیریت د هېواد په غربي زون کې د څو بندونو په جوړولو پیل کړ. بخش‌اباد بند په فراه، سلما او تیرپل بندونه په هرات او کمال خان بند په نیمروز ولایت کې د مرزي او تر پوله اوښتونکو (فرامرزي) اوبو د مدیریت لپاره د افغانستان دولت اوږدمهاله ګامونه وو.

سیاسي تحولاتو او کورنیو جګړو د دغو مهمو پروژو په اجرا کې ستر واټن او خنډونه رامنځته کړل. په وروستیو کې د افغانستان حکومتونو پام یو ځل بیا د دغو اوبو مدیریت ته واوښت. د ایران په ختیځو او جنوبي ولایتونو په ځانګړې توګه د افغانستان پولې ته نږدې ولایتونو کې بې ساري وچکالۍ او د څښاک اوبو کمښت د

مـرزي اوبو اهمیت دواړو هېوادونو ته خورا لوړ کړی دی.

نـو پـه دا ډول شرایطـو کـې چـې د ډېـرو نړیوالو کارپوهانو له نظره د اوبو اهمیت به پـه راتلونکي کې تر نفتو لـوړ وي، د اوبو د مدیریت اهمیت او د بخشاباد بند ارزښـت پـه اسـانۍ د درک وړ دی. دغـه بـنـد د سیلابونو په کنټرول او په فراه ولایت کې د وچکالۍ اغېزو او خطر په راکمولو کې مهم رول درلودلـی شي. تر ځمکـې لاندې اوبو زېرمـو د تغذیـې او غنـي کولو لپـاره د بند جوړول ډېر اړین دي. که تر ځمکه لاندې اوبو را ایستل په همدې توګه دوام ومومي لکه اوس چـې لـه ژورو برمـو څخه د سـولرو او ماشـینونو لـه لارې دا کار دوام لري، په لنډ وخـت کـې به تر ځمکـه لاندې اوبـو زېرمې وچـې شي او د اوبو سـطحه به ډېـره ټیټه شي، چې په پایلـه کې یې په ځمکه کې د درزونـو پـه ګـډون ډېـرې نـورې سـتونزې رامنځتـه کولـی شي؛ چې خدای مـه کړه د جـبري کډوالیـو، فقـر، لـوږې، بېـکارۍ او انسـاني فاجعې لامل به شي. د بخشاباد بند ارزښـت له دې زاویې هم ډېر اهم دی.

**لانـدې د دغه بند اهمیت ته په څو ټکو کې اشاره کوو:**

1. پـه کلني ډول تر یو میلیـارد د زیاتو (1360) میلیون مترمکعب (د سلما بند دوه برابره او د کمال خان بند 26 برابره) اوبو د زېرمه کولو وړتیا؛
2. تر 100 زره هکتاره زیاتو شاړو دښتو او ځمکو د خړوبولو ظرفیت؛
3. د 27 میګاواټه برېښنا د تولید ظرفیت، چې د فراه ولایت د برېښـنا اوسـنی لګښـت 2 میګاواټه دی؛
4. د دغه بند په جوړېدو به د بالابلوک سیمې ته تر بکوا دښتو پورې پر صنعتي زون د بدلېدو وړتیا برابره کړي؛
5. دغه بند به تر ځمکه لاندې اوبو زېرمې تغذیه کړي او د دغو اوبو د بې‌رویې راایستلو مخه به ډپ کړي؛
6. د سـیلابونو په کنټرول او سـطحي اوبو په مدیریت کې به رغنده رول ولوبوي؛
7. د دښـتو او شـاړو ځمکو ابـادول، د زراعتي عوایـدو لوړوالی، په کال کې د یوه فصل پر ځای د څو فصلونو کرل؛
8. د بخشابـاد بند پـه جوړېدو به کرنـه، مالداري او صنایع وده وکړي، د محصولاتو اندازه او اقلام به تر اوسنۍ کچې او اقلامو په ځلونو زیات شي؛
9. د کانالونو په امتداد له سـړکونو څخه له کلیو سره د ارتباطـي سـړکونو پـه توګـه ګټه اخیستل؛
10. په دغه ولایت کې به سرانه/سړي سر عاید او د ژوند کچه ورسره لوړه شي او په پایله کې به د هېـواد په کچه د فقر او بېکارۍ په کمښـت مهم رول ادا کړي.

# بخش‌اباد بند او د فراه‌رود حوزې د اوبو سرنوشت

د فراه‌رود د اوبو لړۍ د بالابلوک، پشت رود، خاک‌سفید، انار درې، قلعه‌ی‌کاه، شیب‌کوه او لاش جوین ولسوالیو له څو کوچنیو جهیلونو سره یو ځای کېږي او داسې مست او څپانده سیند جوړوي چې د فراه له مرکزه تېرېږي او د سیستان-بلوچستان پولې صابري هامون ته رسېږي. دغه اوبه د ایران په زابل کې د چاه‌نیمه په نامه مصنوعي تالاب/جهیل کې زېرمه کېږي او له هغه ځایه د اوبو رسولو د منظمو شبکو په وسیله د سیستان - بلوچستان او د کرمان، زاهدان، زابل، مشهد او جنوبي خراسان په ګډون د چابهار بندر تر ګاونډه د څښاک اوبه چمتو کوي. خو افغانستان په ځانګړې توګه فراه ولایت د کرنې لپاره د اوبو له سخت کمښت سره مخ دی، له دې ګران‌بیې پانګې سمه ګټه نه شي اخیستی، یوازې (8 - 12) سلنه اوبه د کرنې لپاره کاروي او دغه اوبه (چې د ځینو سرچینو پر اساس یې ارزښت تر یوه میلیارد ډالرو زیات اټکل شوی) له لسیزو راهیسې د پولې هغې خواته وړیا او بې بدیله تللې دي.[4] خو ایران نه یوازې دا چې له دغو اوبو څخه راضي نه دی، بلکې تل یې د خپلې حقابې د نه ترلاسي شکایتونه کړي او د افغانستان پر دولت یې مختلف فشارونه راوړي دي. د دغه بند په جوړېدو به د فراه‌رود مست سیند د فراه تږو دښتو د خړوبولو مجال پیدا کړي او په دغه بند پورې د فرایانو د کلونو کلونو تړلې هیلې او ارزوګانې به پوره شي.

## ماخذونه


1- د اقتصادي کمېسیون 22مه ناسته ترسره شوه، https://dpmea.gov.af/ps

2- د افغانستان برښنا شرکت

3- اعمار بندها، نقطه‌ی مرکزی نزاع افغانستان و ایران بر سر آب است، برگردان: ابوبکر صدیق، سرچینه: The interpreter

4- آبهای حوزه دریایی فراه‌رود و سهم 'ناچیز' افغانستان از آن؛ آصف ننګ، والی پیشین فراه

5- بنیاد فرهنگی مستان روشن، تهیه کننده گزارش: استاد فرید احمد هیبت، 1395.

6- د فراه بخش اباد بند د ډیزاین تړون لاسلیک شو
https://www.bbc.com/pashto/afghanistan/2016/06/160615_hh-farah-bakhshabad-dam

7- آینده بهتر با مدیریت منابع آب،
https://8am.af/better-future-management-of-water-resources




# الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند
# د اوزبیکستان د ملي امنیت شورا له سلاکار سره وکتل

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند د اوزبیکستان د ملي امنیت شورا له سلاکار او په بهرني سیاست کې د ولسمشر له ځانگړي استازي عبدالعزیز کاملوف او مل پلاوي سره په چهارچنار ماڼۍ کې وکتل.

په دغه ناسته کې د افغانستان - اوزبیکستان تر منځ پر دوه اړخیزو اړیکو، له نړیوالو سره د افغانستان د اړیکو پر پیاوړتیا، د لویو اقتصادي پروژو پر ژر پیل او گډو همکاریو خبرې وشوې. ښاغلي کاملوف وویل، په افغانستان کې د اسلامي امارت په واکمنېدو سره د دواړو هېوادونو تر منځ د اړیکو نوی څپرکی پرانیستل شوی او د خوښۍ ځای دی چې د دغو اړیکو له مخې د افغانستان پر اقتصادي بیارغونه او د اقتصادي سیستم پر پیاوړي کولو په گډه خبرې کېږي.

نوموړي زیاته کړه، تاشکند راتلونکې جولای میاشت کې د افغانستان په اړه نړیوال کنفرانس جوړوي، چې د اسلامي امارت لوړ رتبه استازي ته هم پکې د گډون بلنه ورکوي.

د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال ښاغلي کاملوف ته د نوې دندې مبارکي وویله او د تاشکند له لوري د جوړېدونکي نړیوال کنفرانس هرکلی یې وکړ او دا یې د روابطو د رامنځته کولو لپاره مثبت گام وباله.

دغه راز الحاج ملا عبدالغني برادر اخوند ټینگار وکړ، اوزبیکستان چې هرخومره ژر کولی شي د ترمز - کابل - مزارشریف - پېښور رېل پټلۍ په گډون د برښنا او هوایي چلند په برخو کې د نیمگړو پروژو کارونه بشپړ کړي.

په پای کې د ریاستالوزراء اقتصادي مرستیال د دواړو هېوادونو تر منځ د اړیکو پر پیاوړتیا ټینگار وکړ او د لا پراختیا هیله یې وښوده.

